❖ د الله (ﷻ) قضاء -پرېکړه- پلې کېدونکې ده، د مرګ نېټه يقيني ده، روزي برخه شوې ده، نو، بياخفګان ولې؟ چې په ناروغۍ، نېستۍ، بېوزلۍ اوغميزه کې اجرشته، نو بيا اندېښنه په څه خاطر!؟

❖ په دنيا کې هم يوجنت شته، که څوك د دنيا جنت ته داخل نه شو، هغه به د آخرت جنت ته نه شي ننوتلای، چې هغه د الله(ﷻ) له ذکر، طاعت، بنده ګۍ، محبت او ورسره دمينې له لېوالتياڅخه عبارت دی .

❖ الله(ﷻ) د پيغمبر(ﷺ) له اصحابوڅخه ځکه راضي شوی و، چې هغوی يې پرېکړو ته غاړه اېښې وه، اوهغوی هم له الله(ﷻ) څخه ځکه خوښ وو، چې الله (ﷻ) ورته هغه څه ورکړي وو، چې هغوي غوښتل، او له کوم شي څخه هغوی وېرېدل الله(ﷻ) وساتل .

❖ د چا چې داسې رب وي چې هرڅه يې ټاکلي دي، بخښنه کوي، پرده پوښ وي، روزي ورکوي، ګوري او اوري، د ټولو شيانوکونجيانې ورسره وي، نو هغه بنده به څرنګه غمجن وي ؟

❖ د الله (ﷻ) رحمت پراخه دی، د مهربانۍ دروازه يې پرانيستې ده، بخښنه يې وړيا ده، ورکړه يې شپه او ورځ دوام لري، توبه قبلوي او خورا د زغم خاوند دی .

❖ مه خفه کېږه ! ځکه چې د هرڅه په اړه الٰهي پرېکړې پای ته رسېدلي دي، ټاکل شوي کارونه هرومرو ترسره کيږي، د برخليک او پرېکړه ليک قلمونه نورې ليکنې نه کوي، د ازل ليکپاڼې ټولې شوي دي، د نېك کارپه بدل کې ثواب ليکل شوی اود ګناه د بخښنې فيصله يې کړې ده .

❖ کړنه دې ښکلې اوهيله دې لنډه کړه، اجرته سترګې په لار اوسه، د خپلې روانې ورځې په چوکاټ کې ژوند تېروه، خپلوکارونو ته مخه کړه، وخت وپېژنه او ژبه دې په خپل قابوکې وساته !

❖ له کتاب پرته بل ګټورشی، له قبرپرته بل ښه پند ويونکی، له ګناه پرته بل ستړی کوونکی، له زهد پرته بله دعزت وړجامه او له قناعت پرته بل شتمن شی نشته !

❖ ستا د همت، هڅو او ټينګ هوډ له مخې ستا تاريخ ليکل کيږي، خوته دا هم بايد په ياد ولرې چې لويوالی اتکلي او وړيا نه وېشل کيږي، بلکې په پوره قابليت او قربانۍ ترلاسه کېدای شي .

❖ ستونزه اسانه وګڼه، بياپه خپله اسانيږي، يواځې د آخرت انديښنه کوه او بس، د آخرت ورځې ته تياری وکړه، د هرشي بې ارزښته برخه پرېږده !

❖ په مباحو- روا- شيانوکي له اړتيا څخه ډېروالی د ستومانۍ لامل کيږي، لکه : ډېرې خبرې، ډېرخوراك، ډېرخوب، ډېره ناسته ولاړه او ډېره خندا،چې دا ټول دغم اوپرېشانۍ لاملونه دي .

❖ ﴿ ترڅوچې له لاسه وتلي شيانو پسې ګوتې ونه مروړئ﴾.الحديد٥٧:٢٣

❖ نوتاسود پښېمانۍ له امله مه ويلي کيږئ، په ژړا اولاس مروړلوخپل ځانونه مه وژنئ، د زيات قهراوچغو له امله ځانونه مه ختموئ !

❖ ﴿ای پيغمبره ستا اود مؤمنانو لپاره الله کافي دی﴾ الله (ﷻ) تاسوته کافي دی، نوهغه به ستاسوکارونه سموي، پالنه به مو کوي، له تاسوڅخه به دفاع کوي،او له دښمنانواوخطرونوڅخه به مو ژغوري،نو مه وېرېږئ! التّوبه ٩:٦٤

❖ ﴿بېشکه چې الله(ﷻ) له پرهېزګارانوسره مل دی﴾.يعنې د دښمنانومخنيوی يې کوي، له کړاوڅخه يې خلاصوي، له ناروغيوڅخه يې روغوي او له هرې ستونزې څخه يې ژغوري ! النّحل ١٦:١٢٨

❖ ﴿ لاَ تَحْـزَنْ اِنَّ اللهَ مَـعَنَا ﴾ : مه خفه کېږه ! بېشکه چې الله له موږ سره مل دی. الله(ﷻ) موږ ګوري، زموږ خبرې اوري، د دښمن په وړاندې زموږه مرسته کوي، کوم کارونه چې موږ ته د پام وړ وي هغه راته اسانه کوي او کوم شيان چې موږه غمجنوي هغه راڅخه لرې کوي ! التّوبه ٩:٤٠

❖ ﴿ای پيغمبره ! ايا موږستا سينه پراخه نه کړه﴾؟ اياهغه موپراخه ، خوشحاله، ډاډمنه او اباده کړې نه ده﴾ الشّرح ٩٤:١

❖ ﴿ په چلونو يې زړه مه تنګوه ﴾ موږ درته دهغوی د مکرپه مقابل کې کافي يو، دهغوی دسيسې درته شنډوو، د زيان رسولومخه يې نيسو، نوته زړه مه تنګوه !

❖ ﴿ تاسو سست او غمجن نه شئ تاسو اوچت یاست﴾ یعنې ستاسوعقیده دین، منهج ـتګلاره ـ عادتونه اوخویونه، مرام اوسلوك تر نورو زیات لوړ اوغوره دي! آل عمران ۱۳۹:۳

❖ ﴿ بېشکه چې ستا رب د پراخې بخښنې څښتن دی﴾ ګناهګارته بخښنه کوي، توبه قبلوي او تېروتنه بخښي ﴾ النّجم ۳۲:۵۳

❖ ﴿ د الله له مهربانۍ څخه مه نا امیده کېږئ ﴾ ځکه چې خلاصون نژدې دی، مهرباني یې بېړنۍ، د اسانتیا توفیق یې حاصل شوی، سخا یې پراخه او فضل یې عام دی ﴾ یوسف ۸۷:۱۲

❖ ﴿ نوالله ډېربېنه ساتونکی دی هغه له ټولورحم کوونکوڅخه خورامهربان دی ﴾ روغول او جوړول کوي، په خلکو کې یوڅوک خوښوي بیا یې غوره کوي، ساتنه اوسرپرستي یې کوي، پرده پوښ دی، بخښنه کوي او د زغم اومهربانۍ خاونددی ،غائب انسان ساتي، مسافر بېرته راستنوي، بېلاري ته لاربښوونه کوي، په ازمېښت کې اخته انسان ته د خلاصون لاره پرانیزي، ناروغ روغوي اوهمدا رب دی چې ستونزه له منځه وړي ﴾ یوسف۱۲:۶۴

❖ ﴿پرالله توکل وکړئ﴾ خپلې چارې وروسپارئ،خپل فریاد هغه ته ورسوئ، پر بسنه یې خوښ اوسئ اوپه پالنه اوساتنه یې ډاډمن شئ ! المآئده ۲۳:۵

❖ ژردی چې الله به کامیابي راولي همدا رب دی چې بند قولفونه پرانیزي، درنې ستونزې لرې کوي، اوږدې شپې لنډوي، زړه خوشحالوي او د انسان حال سموي !

❖ ﴿ څه پوه شوی، کېدای شي الله (ﷻ) له دې ورسته کوم بل حل منځته راوړي﴾ نوهمدا الله (ﷻ) غم له منځه وړي، اندېښنې شړي، ستونزمن کار اسانوي، خفګان لرې کوي، کاراسانوي او لرې شی رانژدې کوي ! الطّلاق ۱:۶۵

❖ ﴿ هره ورځ الله (ﷻ) په بېل بېل کارکې دی ﴾ ستونزه لرې کوي، ګناه بخښي، روزي ورکوي، ناروغ جوړوي، کړېدلی له کړاوڅخه خلاصوي، بندي ازادوي، په دردېدلي او زخمي شخص د رحمت پټۍ لګوي ! الرّحمن ۲۹:۵۵

❖ ﴿ بېشکه چې له سختۍ سره اسانتیا شته ﴾. له نېستۍ سره شتمني، له ناروغۍ سره روغتیا، له خفګان سره خوښي، له تنګلاسۍ سره پراخي او له ولږي سره مړښت مل وي ! الشّرح ۹۴:۵

❖ ﴿ژردی چې الله به له سختۍ څخه وروسته اساني راولي﴾ الطّلاق۶۵: ۷ نو ژر دی چې زولنې به ماتې شي، رسۍ به وشکیږي، دروازه به پرانیستل شي، د رحمت باران به ووریږي، مسافربه خپل کورته راستون اوحالات به سم شي!

❖ صبرښایسته دی ژر دی چې حالت به بدل، نفس به هوسا، زړه به خوشحاله،سخت کاربه اسان، غوټه به خلاصه شي، اومشکل به پای ته ورسیږي.

❖ ﴿ پرهغه ژوندي ذات توکل وکړه چې هېڅ مرګ نه لري ﴾ د دې له پاره چې چارې دې سمې، حالت دې ښه، فکردې خوشحاله، شتمني دې خوندي او د اولاد پالنه دې وکړي، پایله دې ښه اوهیلې دې ترسره کړي ! الفرقان ۲۵:۵۸

❖ ﴿ الله زموږ له پاره کافي اوښه کارجوړوونکی دی ﴾ ستونزې راڅخه پورته کوي، کړاوونه لرې کوي، ګناهونه رابخښي، زړونه مو روغوي، بد خویونه -عیبونه - موله منځه وړي ! آل عمران ۳:۱۷۳

❖ ﴿ بېشکه موږ تاته ښکاره بری درپه برخه کړ﴾ موږ درته لارښوونه وکړه اود نبوت د دندې له پاره موغوره کړې، ستا ساتنه مو وکړه، واکمني مو درکړه، مرسته موستا وکړه، عزت مودرپه برخه کړ،او په هرازمېښت کې مو بریالی کړې ! الفتح ۵۸:۱

❖ ﴿ الله پاك تا د خلکو- له شر- څخه ساتي﴾ دښمن به درته زیان نه شي رسولی ، نه به درته کوم سرکښ درورسیږي، نه به درباندې کینه کښ برلاسی شي او نه به دې ظالم له منځه یوسي ! المآئده ۵:۶۷

❖ ﴿ الله پاك پرتا دېرغټ احسان کړی دی ﴾ ته یې پیدا کړی یې، روزي یې درکړې، پوهه یې درپه برخه کړې، سمه لاره یې درښودلې او ته یې پرې روان کړې یې، لارښوونه یې درته کړې، ښه خویونه یې دربخښلي، ستامرسته اوساتنه یې کړې اوستاپالنه او سرپرستي یې کړې ده ! النسآء ۴:۱۱۳

❖ ﴿ هره پېرزوچې درباندې کېږي د الله (ﷻ) له اړخه ده ﴾ الله مخلوق ته لاربښوونه، روزي، غوړونه، سترګې، روغتیا، اوبه، هوا، خواږه، درمل، استوګنځی او جامه ورکوي . النّحل ۱۶:۵۳

❖ کله چې څه غواړی نوله الله څخه یې غواړه، مرسته، مرښت، هدایت، ټینګښت ، مهرباني، خلاصون او ملاتړبه دې په برخه شي .

❖ یواځې پرالله مو توکل کړی، ایمان مو پرې راوړی، د پیغمبر پر لاره یې روان یو، خبرې یې موږ اورېدلي دي، د بلنې پربنسټ یې راټول شوي یو، نو مه خفه کېږه الله (ﷻ) له موږ سره دی .

❖ ﴿ هرومرو به الله (ﷻ) دهغه چامرسته کوي څوک چې د الله - د دین - مرسته کوي﴾ الحدید ۵۷ :۲۵

❖ (( لا حول ولا قوه الاّ بالله )) د الله تعالٰی له خوښې، ارادې، ملاتړ،او مرستې پرته هېڅ ډول هوډ اوقدرت نشته .

❖ ﴿ ایا موږ انسان ته دوه سترګې نه دي ورکړي﴾ د دې له پاره چې د دنیا ښکلا پرې وګوري، او د سترګو په مرسته د دنیا د منظرو له ښکلا څخه خوند واخلي، ګټه ترې واخلي اود ژوند د مېلوهراړخیزسیل پرې وکړي ،ایا موږ انسان ته ژبه او دوه شونډې نه دي ورکړي؟ چې په څرګندو ټکو کې زړه راښکونکې خبرې او پټې خبرې پرې وکړي، هغه خبرې پرې وژباړي چې په زړه کې یې پرتې دي﴾ البلد۹۰ :۸-۹

❖ که تاسوشکر وباسئ، نو هرومرو به الله(ﷻ) تاسو ته خپلې پېرزوینې لا پسې ډېرې کړي، هغه به موعلم اوپوهه زیاته کړي، روزی کې به درته برکت واچوي، بریالتوب اومرسته به موپه برخه کړي او خیربه در زیات کړي .

❖ الله (ﷻ) په دنیا اوآخرت، په مال، کورنۍ اوقابلیتونو، اندامونواو په روح کې په عام اوخاص ډول خپل ښکاره اوپټ نعمتونه پرتاسوتمام کړي دي .

❖ خپل کار الله تعالٰی ته وسپاره . خپل حال اوشکایت ورته وړاندې کوه، ښه ګومان او تکیه پرې کوه، پر پرېکړه یې خوښي څرګندوه، په بخښنه یې ډاډمن اوسه او پوه شه چې هماغه الله(ﷻ) درته کافي دی .

❖ الله تعالیٰ پرخپلوبندګانو خورامهربان دی . بنده ګانوته د نېستۍ پرمهال روزي ورکوي، اوکله چې په قحطۍ کې اخته شي، نو مرسته يې کوي، کله چې بخښنه غواړي هغوی ته بخښنه کوي، کله چې ناروغان شي روغتيا وربخښي، کله چې په کړاوونواو ازمېښتونوکې ولوېږي هغوی ژغوري .

❖ تاسو د الله له رحمت څخه مه نا هيلي کيږئ . د هغه د رحمت دروازه خو تړل شوې نه ده، نه يې پرده راځړول شوې، نه يې د رحمتونو خزانې ختمې شوي، نه يې فضل سرته ته رسېدلی او نه يې د مرستې رسۍ غوڅه شوې ده .

❖ ايا الله د خپل بنده له پاره کافي ـ بس ـ نه دی ؟ الله تعالیٰ ورته د هرې اندېښنې اوغم په وخت کې کافي دی، څوک چې ورته د زيان رسولوهوډ لري او دسيسې ورته جوړوي له هغه کس نه يې ساتي .

❖ روزي له الله څخه وغواړئ . ځکه چې هغه دخزانو او د ټول خيرڅښتن دی، هغه لوروونکی، مرستندوی او پوه ذات دی .

❖ څوك چې پرالله(ﷻ) ايمان ولري نو زړه به يې سمې لارې ته نېغ کړي ستونزه او غميزه به ورځنې لرې کړي، ګناهونه به يې وبخښي، قهر اوغوسه به يې له زړه څخه وباسي، لار به ورته روښانه کړي، ثبات او استقامت به ورپه برخه کړي .

❖ هغه نعمتونه درياد کړئ چې الله پرتاسو لورولي دي . تاسو مړه وئ را ژوندي يې کړئ، بېلارې وئ پر لار يې برابر کړئ، نېستمن وئ شتمن يې کړئ، ناپوهه وئ پوهه يې دروښوده، او کمزوري وئ، نومرسته يې درسره وکړه .

❖ ډېرځله دې ورڅخه غوښتنه کړې ده نو در يې کړل، ستا غوښتنې يې منلي او تېروتنې يې دربخښلي دي، ډېرځله په ستونزه کې پرېوتی يې، هغه يې درته اسانه کړې ده، ډېر وارې دې دعا کړې ده هغه يې قبوله کړې ده .

❖ په معصوم- بېګناه ـ انسان محمد(ﷺ) باندې درود اوسلام ويل د غمونو او اندېښنو د لرې کېدو لامل اود زخمي زړونودرمل دی، د علمونو دروازه پرانيزي او دالله (ﷻ) وېشل شوی فضل پرې لاسته راځي .

❖ له الله پاک څخه غوښتنه وکړئ، هغه ستاسوغوښتنه مني . الله تعالیٰ ته د عاجزۍ لاسونه پورته کړئ، خپلې اړتیاوې ورته وړاندې کړئ، خپل مرادونه او روزي ورڅخه وغواړئ او دخپل حال شکایت ورته وکړئ .

❖ هغه ذات څوك دی چې د اړ بنده سوال مني ؟ کړاو اوستونزې یې لرې کوي، د بنده هیلې پرځای کوي، غوښتنه اوهدف یې سرته رسوي .

❖ هغه کسان چې اخلاقي نېستمن وي، پرهغوی باندې له خپل درنښت څخه خیرات وکړه (په کنځلواو بدوخبرو یې مه خواشینی کېږه) ځکه چې د الله په وړاندې تاته اجر شته .

❖ له بېړۍ چلوونکي - ماڼو- سره چې کله د بېړۍ د ډوبېدو وېره پیدا شي نو وايي چې : یا الله ! لاروی چې لاره ورکه کړي چې نوغږ وکړي چې یاالله! بندي چې کله غمجن شي نو اواز کوي چې یا الله! ناروغ چې تنګ شي نو غږ وکړي چې یا الله !

❖ الله بې نیازه دی. ټول کائنات ورته اړ دي، له الله څخه غوښتنه کوي، په بېلابېلو ژبواو لهجو اوهرډول اړتیاو کې ورڅخه غوښتنه کیږي !

❖ داځکه چې الله د مؤمنانو دوست دی . هغوی ته لاره روښانوي، دلیل ورته بیانوي، د هدایت لارې ورته څرګندوي، د لارې له ورکېدوڅخه یې ژغوري، د پوهې له لارې یې له ناپوهۍ څخه خوندي ساتي .

❖ له مېرمنوسره له نرمښت نه کار واخلئ، په زړونوکې مهرباني او پر خلکو باندې رحم وکړئ، دخلکو ولولو ته پاملرنه او له نورو سره ښېګڼه وکړئ، ای خلکو له مخلوقاتوسره احسان وکړئ !

❖ غصه وزغمه، د بل چا له تېروتنې څخه ځان بې خبره ونیسه، پربدو باندې یې سترګې پټې کړه، سهوه یې وبخښه، په نیمګړتیاو یې پرده واچوه، نوته به د ټولوپرتله، خلکوته ګران شې !

❖ که ته د یوې دروازې اود هغې د کیلي، د یوې هوادارې کوټې اوسوکاله زړه، دپرهېزګارۍ اونېکو کړنوخاوند شې، نوبېشکه چې ته بریالیتوب ته ورسېدې!

❖ د ژوند له اړتیاووڅخه زیات شیان ترلاسه کول هسې بوختیا او د انسان پر اوږو سربېره پېټی دی، خو د اړتیا وړ ژوند چې د انسان حیا په کې خوندي وي له اسراف ـ بېځایه لګښت ـ څخه غوره دی .

❖ د هغوی په مقابل کې الله تعالیٰ تاسوته کافي دی، د کفارو چل پټی به له منځه یوسي، لښکربه یې له مرستې څخه بې برخې کړي، کمزوری به یې کړي، جنګي پوهه اوهیبت به یې شینده وانه کړي .

❖ الله پرهغوی ـ مؤمنانو ـ سوکالي راولي . د زړونو رنځ یې ورجوړ او سوز یې یخ کړ، د سینو لمبې یې ورته ووژلې، وجدانونه یې ورته کرښت او زړونه یې ورته پاك کړل .

❖ ښکلې خبره هم صدقه ده . ځکه چې روح غوړوي، زړه خوشحالوي، زخم ټکوروي، غصه له منځه وړي، اود روغې اعلان کوي .

❖ د ( مسلمان ) ورور په مخ کې ستا موسکی خندا صدقه ده، ځکه چې مخ د کتاب دعنوان ـ سرټکي ـ غوندې دی، مخ د زړه هېنداره، د وجدان لارښود او د فال څرګندولو لومړی پړاو دی .

❖ اود بدۍ مخه په ډېره ښکلې کړنه بنده کړه . د غچ نه اخیستلو، ښې وینا، نرمښت او د بدۍ په هېرولوسره د بدۍ درملنه کېدای شي .

❖ ای پیغمبره ! موږ قرآن پرتاباندې د کړاوونود ډېرېدوپه موخه نه دی رالېږلی! بلکې ستا د نېکمرغۍ، د روح دخوشحالۍ، د نفس د سوکالۍ، او د بري او نېکبختۍ جنت ته دننوتلوله پاره درلېږلی دی !

❖ په دین کې یې پرتاسوکومه سختي نه ده ټاکلې . دین ټول اسانه، دسختیو په اړه پاملرنه، له ستونزې څخه لرېوالی او له زړه تنګوالي اوستومانۍ نه پاك دی.

❖ پیغمبر(ﷺ) له خلکوڅخه هغه دروند پېټی او زنځیرونه لرې کوي، چې پرهغوی اېښودل شوي وو، نو له دې امله یې له بدمرغۍ نه وروسته دهغوی نېکمرغي په برخه شوه، له ستومانۍ نه وروسته د راحت، له وېرې نه وروسته د سوکالۍ او له خفګان نه وروسته د خوښۍ څښتنان شول .

❖ ای ربه ! سینه مې پراخه او کارمې اسان کړې . ترڅوخپلې مخې ته رڼا ووینم، هدایت په خپل زړه کې محسوس کړم، رسۍ په خپل لاس کې ونیسم او په دنیا او آخرت دواړو کې بریالی شم .

❖ موږ تا ته د اسانه دین لار اسانوو. نوته به په مینه د خپل رب بنده ګي وکړې، د زړه له کومې به یې امر ومنې، په رېښتیا سره به یې په لاره کې جهاد وکړې، بیا به هلته عذاب تاته خوندور اوترخه به درته د ګبین په څېرخواږه ښکاري !

❖ الله پرهېڅ نفس باندې له خپل توان څخه پورته بار نه ږدي . یعنې په اسلام کې له توان څخه پورته مجبورول نشته، بلکې د زور، زیار او قابلیت په کچه بنده ګوماري .

❖ ای زموږ ربه! پرهغه کار مو مه نیسه چې له موږ څخه هېرشوی وي ځکه چې موږ کله اندېښمن اوکله بې پروا کېږو، کله موفکرونه هوایي کیږي اود هېرېدلو په ستونزه اخته کیږو، نو ای پالونکیه ربه، بخښنه راته وکړې، اوکه موږ تېروتو نو بخښنه وکړې، ځکه چې موږ بېګناه نه یو، له دې امله موږ ستا د فضل او رحمت په هیله یو .

❖ ای زموږ ربه ! پرموږ درونه پېټی مه باروه. ځکه چې موږ کمزوري او بېوزله بندګان یو، او تا موږ ته دغوښتنې لاره ښودلې ده، چې موږ یې څرنګه وغواړو، نو څرنګه چې دې موږ سره ژمنه کړې، هماغه شان مو دعاء هم ومنه !

❖ ای زموږ ربه ! پرموږ هغه څه مه راباروه چې توان یې نه لرو . که داسې وشي نو بیا به موږ ناتوانه شو، زړونه او نفسونه به مو ستومانه او تنګ شي، بلکې ای ربه ! پر موږ باندې اساني راوله، چې بېشکه راوستې دې هم ده، او زموږ دعاء دې قبوله کړې ده .

❖ موږ ته عفوه وکړه. ځکه چې موږ له خطا سره مخ یو، له موږڅخه تېروتنې کیږي، موږ کې کمزورۍ او نیمګړتیاوې شته، ته د ډېرې سخا او ورکړې څښتن یې، ته بخښونکی او مهربان یې .

❖ ای الله موږ ته بخښنه وکړه . ځکه چې له تا پرته بل داسې څوك نشته چې ګناهونه وبخښي، پرعيبونوباندې پرده واچوي، د نيمګړتيا پرمهال له زغم نه کاراخلي او پرګناهګار باندې ورحميږي .

❖ ای الله پرموږ ورحمېږه. ستا په رحمت سره نېکمرغه کيږو، يواځې ستا په رحمت باندې زموږ هيلې ژوندی دي، يواځې ستا د رحمت له لارې زموږ کړنې قبليږي، ستا د رحمت په برکت مو ژوند جوړېدای شي .

❖ پيغمبر(ﷺ) وايي، زه له اسانه دين سره رالېږل شوی يم. داسې دين چې نه په کې سختي شته، نه يې په کړنو اوخبرو کې ژور تګ او نه په کې بېځايه ځان کړول شته، بلکې د انسان له مزاج او اصلي جوړښت سره برابردين دی، اسانتيا او منځلاري په کې پرته ده .

❖ پيغمبر(ﷺ) وايي، له شرعي کړښوڅخه تېری مه کوئ . بلکې د رسول الله (ﷺ) په سنتومنګولې ولګوئ، پرلاره يې لاړشئ ،له ځان نه په دين کې نوي کارونه مه جوړوئ، له اسانۍ څخه کاراخلئ، ډېره سختي مه کوئ، منځلاري اوسئ او له بېځايه سخت دريځۍ څخه ډډه وکړئ !!

❖ پيغمبر(ﷺ) وايي، د الله تعالٰی له اړخه زما پرامت رحم شوی دی .الله پاک ورسره دوستي اعلان کړې ده، د دې امت پيغمبرد ټولوپيغمبرانوسردار او دين يې تر ټولودينونوغوره دی، په خپله دا امت تر ټولوامتونوغوره امت دی، شريعت يې په ټولوشريعتونوکې ښکلی دی .

❖ د ايمان خوند هغه چا وڅکه چې الله يې خپل رب، اسلام يې خپل دين او محمد (ﷺ) يې خپل پيغمبرومنلو، اوهمدا درې خويونه د برياليتوب اوخوښۍ بنسټونه دي .

❖ پام کوه چې پرالٰهي پرېکړوخفه نه شې، ځکه چې پرتقديرباندې خفګان او پرېشاني د زړه د ګډوډۍ او د فکر د خرابېدو، د ژوند د بدېدو او د عمرد بربادۍ دروازه ده .

❖ رضامندي زړه ته يوډول ډاډ، راحت، هوساينه، پاکوالی اوخوشحالي ورکوي .

❖ رضامندي زړه له هرډول پرېشانۍ، تنګوالي، ذهني ستومانۍ، چل، خفګان ، انکار او فریاد څخه خوندي ساتي .

❖ څوك چې له الله (ﷻ) څخه راضي شو، نو الله به يې زړه له ايمان، نور، يقين، قناعت، خوښۍ، بې پروايۍ، ډاډ، غاړه اېښودنې او توبه ايستلوڅخه برخه من کړي .

❖ اې نېستمنه! له صبرڅخه کار واخله، تاته خوصبر ډېرښه دی، ځکه چې د مال د کړاوونو اوپېټو، د پانګې دپالنې، د مال ټولونې، ساتنې اوخدمت کولو له ستونزې او د الله (ﷻ) په حضورکې د اوږد حساب له ورکولوڅخه خوندي يې .

❖ اې هغه څوکه چې سترګې دې له لاسه ورکړي!! دخپلوسترګوپه بدله کې د جنت زېرۍ ومنه اوپه دې پوه شه چې تاته په دنيا کې هم الله تعالٰی ستا په زړه کې نوردرکړی، ته يې د هرډول ناروا شيانود ليدنې اود دردوونکو اوهسې بې ګټو شيانوله ليدلوڅخه خوندي ساتلی يې .

❖ اې ناروغه! ان شآء الله چې دغه ناروغي دې د نفس پاکوالی دی، د ناروغۍ په واسطه له ګناهونوڅخه پاک شوې، زړه دې صاف، نفس دې مات او کبردې له منځه ولاړ .

❖ ته ولې د ورك شوي شي په اړه فکرمن يې اوپرموجوده- شته- شيانوشکر نه وباسې ! ؟

❖ پيغمبر(ﷺ) وايي، په دنيا کې داسې ژوند تېروه لکه ته چې يو لاروی يې. يوه مړۍ ډوډۍ، يوه لپه اوبه، يوه جوړه جامه، همدا ستا له پاره بس دي، ځکه چې د ژوند ورځې لږې، شپې يې په شماردي، خومخلوقات ټول پناه کيږي، بيا خو قبر دی چې د شتمن او نېستمن دواړو له پاره به يو برابر وي .

❖ ټولواک به د خپل خادم اوساتونکي ترڅنګ، شاعربه د يوه ورك نومي فقيرترڅنګ اوشتمن به دنېستمن ترڅنګ ښخيږي، خوپه قبرکې دننه بيا د کړنو پر بنسټ چلند کيږي او د اعمالوپه اندازه يې پوړۍ ښېليږي .

❖ که پرتا يوه نوې ورځ راشي، نوهغې ته ووايه چې قدرمنې مېلمنې ښه راغلاست ! بيا يې ښه مېلمه پالنه وکړه، داسې چې د ورځې فرايض او واجبات پر

ځای کړي، نوې توبه په کې وباسي، نه دا چې په ګناهونو اوغمونویې خړه پړه کړي، ځکه چې دا ورځ همېشه نه راځي .

❖ کله چې خپل تېر وخت درياد کړې، نويواځې خپل ځلاند تاريخ دې درپه ياد کړه، چې زړه دې خوشحاله شي اوکه غواړې چې په خپله ننۍ ورځ کې فکر وکړې، نويواځې دهمدې ورځې کړنې او لاسته راوړنې دې درپه زړه کړه، چې خوښ اونېکمرغه شې، اوکه غواړې چې سبا ورځ دې درپه ياد کړې نويواځې خپل ښايسته خوبونه اوهيلې دې درپه يادکړه، چې ښه فال پرې ونيسې .

❖ اوږد ژوند د تجربو يوه ستره پانګه، د پوهنې يونچوړاو د معلوماتو ښه ذخيره ده، ستا ژوند ته که يوه ورځ هم ورزياتيږي، نو دا به په دې معنا وي چې تا په خپل ژوند کې يونوی درس اوعبرت ترلاسه کړ، بېشکه چې د عمر اوږدوالی د هوښيارانو له پاره ستربرکت دی .

❖ تاته څه اندازه وېره په کارده چې امن او ډاډ درپه ياد کړي، دعاء ته دې وهڅوي، له سرغړونې څخه دې وژغوري او له لوی خطرڅخه دې ووېروي .

❖ لږ ه ناروغي هم تاته ښه ده چې د روغتيا قدردرپه ياد کړي، له زړه څخه دې د کبرجړې راوباسي، د غرورکچه دې را ټيټه کړي، ترڅو زړه دې د غافلانو له خوب څخه راويښ شي .

❖ ژوند ډېرلنډ دی، په سختۍ اوشومتيا يې مه لنډوه، ملګري لږ دي ته يې په غندنه نورهم مه کموه، او دښمنان ډېردي نوته يې په بداخلاقۍ مه ډېروه !

❖ په ټينګ قدم او حوصله کې د مېړې غوندې شه، هغه ونې ته سل ځله د ختلوهڅې کوي ببرته راغورځيږي، خو بيا هم خپلوهڅوته ترهغې پورې دوام ورکوي، ترڅو چې په ختلوکې بريالی شوی نه وي، په داسې حال کې چې هغه نه ستومانه کيږي او نه يې زړه تنګيږي .

❖ د شهدومچۍ غوندې شه، پاکيزه خوري او پاك (ګبين) وباسي، پرڼدرکي باندې کښېني خوهغه نه ماتوي، اوکه پرګل باندې کښېني نوهغه هم نه خرابوي .

❖ د رحمت پرېښتې هغه کورته نه ځي چې سپی په کې وي، هغه زړه ته به داړ څرنګه ورپه برخه شي چې د دنیایي غوښتنواوشکونو سپیو په کې ځای نیولی وي .

❖ له شخړوڅخه ډکه ناسته کې مه کېښنه، ځکه چې په داسې ځایونو کې دین ډېر بې ارزښته پلورل کېږي، مېړانه په کې ځوریږي، درنښت په کې د کم اصلو خلکو تر پښو لاندې کېږي .

❖ یو له بل نه مخکې وځغلئ! پرته له سیالۍ نه هېڅ چاره نشته، ځکه چې وخت مخ په وړاندې درومي، لمراو سپوږمۍ روان دي، باد الوزي، نو تاته په کارنه دي چې ته ځای پرځای ودرېږې، ته هم وخوځېږه، ځکه چې د ژوند کاروان تاته ایسارېدای نه شي .

❖ تلوار وکړئ! د اسمان په لور ودانګه ځکه چې سرلوړي هلته ترلاسه کېږي. داسې مه انګېره چې بریالتیوب به ګواکې تاته د سرو زرو په قابونوکې دالۍ شي ؟ بریالیتوب د اوښکو اوخولوپه تویولو، بې خوبۍ، ستوماني، ستونزې او ولړې سره ترلاسه کېږي .

❖ د کارګرخولې د ناست انسان له مشک او عنبرڅخه هم غوره دي، او د کارله امله د ستړي کس اوسپلی د تنبل بنده له سندروڅخه هم خوږ وي، د وږي کس وچه ډوډۍ د موړ انسان د پسه له غوښې څخه هم خوندوره وي .

❖ بریالیوخلکوته د حاسدینو-کینه کښنو- له اړخه چې کومې ستغې سپورې ورلېږل کېږي په حقیقت کې د بریالیتوب په ویاړد توپ ډزې، د بریا اعلان او د هغوی د لوړوالي په موخه یوه وړیا هڅه ده .

❖ لوړوالی اوتینګښت، نسبونه، لقبونه او بودیجه په رسمیت نه پېژني، بلکې هرهغه څوك چې دکلك هوډ هیله من، د ویښ نفس او ښه زغم څښتن وي، نو د پر مختګ لوری یې ومونده .

❖ له ستونزو څخه مه وېرېږه، ځکه چې زمری کله د اوښانو له یوې ډلې سره مخامخېږي، نوهغه ورڅخه نه وېرېږي اوته د ژوندون له ستومانتیا څخه سرمه ټکوه، ځکه چې که پریوه خره باندې څومره درانده بارونه بار وي یو زېږروی هم نه کوي، او ته خپلې موخې ته د رسېدو له پاره له هېڅ ډول سختیو څخه مه پرشاکېږه او مه پرې کړېږه، د ببلګي په ډول سپي چې کله خپل ښکار په

مخه کړی وي، نوکه هغه ښکار د اورمنځ ته هم ننوځي سپی هم ورپسې ننوځي ترڅو چې پرنیولو یې بریالی شي .

❖ په خپلومهموکارونوکې دې یواځې پر خپله رایه تکیه مه کوه، بلکې له بل چا سره هم سلا کوه، ځکه چې د یوه کس له نظره د دوه کسانونظر ډېرکلک وي، لکه پړی چې یواځې وي هغه کمزوری وي، خوکله چې ورسره یو بل پړی هم تاو شي نوکلك او ټینګ شي .

❖ د ګوتنیونکی له اړخه که پرتا هره نیوکه کیږي، ان که هره موخه لري خو ته ورته د دښمنۍ په سترګه مه ګوره، زیار وباسه له هغه څخه ګټه واخله، ځکه ته د ستاینې پرتله اصلاح ته ډېر اړ یې .

❖ څوک چې د خلکوپه مزاج پوه شو، نوهغه بختوردی، کله یې چې خلک ستاینه کوي نه مستیږي، او نه د ځان په غندنه پرېشانه کیږي، ځکه چې عام خلک ډېر ژرخوشحالیږي، ژرپه غصه کیږي، اونفسي غوښتنې هغوی خوځوي .

❖ داسې مه انګېره چې ګواکې بدنې نیمګړتیاوې به ستا د هدف په لارکې خنډ وګرځي، بلکې ډېرځله به د یوانسان لوړوالی او ویاړ په برخه شي، په داسې حال کې چې هغه به یا وړوند یا کوڼ یا به په لاسونو اوپښو شل وي، او موږ دغه ډول ډېرخلک ګورو، نوخبره د همتونو نه بلکې د جسمونو ده .

❖ کېدای شي الله تعالی کوم شی درڅخه ایسارکړي، چې هغه پېرزوینه وي اوستا دغوښتنې مخنیوی به د الله(ﷻ) له خوا پرتا باندې مهرباني وي، له خپلې موخې نه وروسته پاتې کېدل به پرتا باندې پاملرنه وي، لنډه دا چې الله (ﷻ) پرتا باندې له تاڅخه ښه خبراو پوه دی .

❖ که کومه ستونزه درته پېښه شوه نو داسې یې وګڼه چې ګواکې هغه د اوړي وریځ ده، ډېر ژر به له منځه لاړه شي، او د دغو وریځوبرېښنا اوتندربايد تا ونه وېروي، ځکه کېدای شي هغه د باران پیلامه او زېری وي .

❖ په اوونۍ کې یوځل له خپلې کورنۍ سره په چکر ووځه چې دخپلو ماشومانو ارزونه په ښه توګه ترسره کړې اوهغوی وپېژنې، نو ژوند ته به نوښت ورکړې او له ځانه به ستوماني وشړې .

❖ ځوك چې په خپل كوركي نېكمرغه نه شو، هغه به په بل هېڅ ځای کې نېكمرغه نه شي، ته بايد په دې پوه شې چې ستا د نفس او فكر د راحت له پاره همدارنګه له بېځايه ځان ځورونې اوتكليفولوڅخه د خوندي ساتلو له پاره غوره ځای ستا كور دی .

❖ د پوهې اوپوهنې وياړ نه ختمېدونکی دی، په ځانګړې توګه دهغه چا په حق کې چې د ښوونې او ليكنې په برخوكې بوخت وي او د شهرت اومنصب وياړ له منځه تلونكی سوری او يوتش خيال دی .

❖ كله چې فكرايله پرېښودل شي، نوهرومرو هغه به دغمونو لورته مخه كوي، ايله شوی فكرخپل خاوند ته دردونه، غمونه او اندېښنې پيدا كوي، نوته يې الوتلو ته مه پرېږده، بلكې پرګټور كار يې بوخت کړه !

❖ د فكر د ګډوډوی او زړه سختی له لاملونوڅخه يوهم له خلكوسره بېځايه ناسته ولاړه او دهغوی بې ګټې خبرې اورېدل دي، خود علم اوعبادت ترڅنګ له خلكوڅخه ګوښه ناسته غوره كاردی .

❖ ستا په لاروكې تر ټولو قدرمنه لار د مسجد او تر ټولو ډاډمنه لار ستا د كورلار ده، او په ټولوكې ستونزمن اوسخت حالت هغه دی، چې ته د الله (ﷻ) په مخ كې ولاړ اوسې، او ستا ترټولو ستره ښه هغه ده چې تا قهار ذات ته خپل سرد سجدې له پاره لګولی وي .

❖ په ښكلي اواز کې د قرآنكريم اورېدل، په پوره پاملرنې سره د الله تعالیٰ ذكر، له حلال مال څخه صدقه، په روانه ژبه خلكوته وعظ ـ پند بيانول ـ د نفس له پاره د نعمتونوډك دسترخوان او د زړه له پاره باغچې دي .

❖ ښكلي اخلاق او درانه خويونه له ښكلومخونو، تورو ستركو او نازكو اننكوڅخه زيات ښايسته وي، ځكه چې روحي ښكلا له بدني ښكلا څخه غوره ده .

❖ ښېګڼې د بدو پېښومخه نيسي، هوښياري د بدو خواهشاتو مخنيوی كوي او د تجربو زنګونه له زرو واعظانوڅخه ګټوردي .

❖ كله چې زړګونه داسې كسان وګورې چې هغوی خپل عمرونه په مستۍ اوساعتېرۍ کې تېرکړي وي، نوته بيا د الله له لوري په هغه ښه حالت باندې شكر

وباسه چې ته په کې قرار لرې، ځکه چې روغ کس کله ناروغ وګوري نو پرخپل ځان د روغتیا له امله خوشحالیږي .

❖ که یوکافر وګورې نوپرخپل اسلام باندې د الله (ﷻ) ستاینه وکړه اوکه یو بدکاره انسان وګورې، نوپرخپله پرهېزګارۍ الله تعالی وستایه، که یو ناپوه انسان وګورې، نو پرخپله پوهه د الله(ﷻ) څخه مننه وکړه، اوکه ناروغ وګورې نوپه خپلې روغتیا د الله (ﷻ) ستاینه وکړه !

❖ لمرستا له پاره پیدا شوی دی، په رڼا یې ولامبه، بادونه هم ستا له پاره پیدا شوي دي، نوته یې له هواڅخه خوند واخله، سیندونه اونهرونه هم ستا له پاره پیدا شوي دي، له اوبوڅخه یې مزه واخله او رنګارنګ مېوې ستا له پاره پیدا شوي دي، نو په خوړلو یې ځان خوښ کړه، اوبیا د هغه ذات شکر پرځای کړه چا چې دا ټولې پېرزوینې کړي دي .

❖ د وږوند په زړه کې ارمان وي چې کاشکې دا نړۍ وګوري، کوڼ د اورېدو په ارمان وي، په پښو شل هیله من وي چې کاشکې په خپلو پښوڅوګامه واخلي، ګونګ په دې هیله وي چې یوڅوخبرې یې کړې وي، خوته د لیدلو، اورېدلو، تللو او خبروکولو وړتیا لرې .

❖ ته دا ګومان مه کوه چې ګواکې دغه ژوند به د چا له پاره بشپړشوی وي، داسې نه ده، که څوک د کورځښتن وي هغه به موټرنه لري، څوک چې مېرمن لري هغه به له کار او دندې څخه بې برخې وي، څوک چې اشتها لري کېدای شي خواړه ونه لري، او چاسره چې خواړه شته کېدای شي له خوراک څخه ایسارشوی وي .

❖ د آخرت د توښې له پاره مسجد ښه بازاردی، کتاب د ژوند ملګری دی، نېک عمل په قبرکې ښه اشنادی، نېك اخلاق د شرافت او ویاړ تاج دی، دروند اوښه خوی ترټولو ښایسته جامه ده .

❖ د ملحدینود کتابونو له لوستلوڅخه ځان وژغوره، ځکه په هغو کې داسې پلیت نظریات دي چې ستا زړه ناولی کوي او وژونکي زهرپه کې شته، له داسې حماقتونوڅخه ډك دي چې د انسان وجدان له منځه وړي، لنده داچې تاته له قرآنکریم اونبوي احادیثو پرته بل داسې غوره څه نشته چې هغه ستا روح پاك او ناروغي دې ختمه کړي .

❖ د قهر په حالت کې هېڅ تصمیم مه نیسه، که نه نو پښېمانه به شې، ځکه چې قهرجن انسان دغصې پرمهال سم فکرله لاسه ورکوي، عقل يې په عادي حالت کې نه وي .

❖ خفګان له لاسه تللی شی نه شي راګرځولی، وېره ستا راتلونکی ژوند نه شي جوړولی، پرېشاني بریالیتوب نه شي راوړلای، بلکې راضي نفس اوخوشحاله زړه دا دواړه د نېکمرغۍ وزرونه دي .

❖ چې ترڅو د نورو درناوی ونه کړې نو له هغوی څخه خپل درنښت هم مه غواړه، پر نوروخلکود هغې ناکامۍ پړه مه اچوه، چې درپېښه شوې ده اوخپل ځان ملامت وګڼه، که ته غواړې چې نورخلك دې درناوی وکړي، نوته لومړی د خپل ځان درناوی وکړه .

❖ د کیږدۍ خاوند چې په دې پوی شي، چې دنګې ماڼۍ هم ړنګېږي، نو ورته په کاردي چې پرخپله کیږدۍ باندې خوښ شي، او د شکېدلو جاموخاوند چې کله پوه شي د ورېښموجامې هم یو وخت زړېږي، نو ورته په کاردي چې پرخپلو شکېدلو جاموقناعت وکړي .

❖ څوك چې د خپل زړه هره غوښتنه مني زړه به يې دانه وانه، کار به يې خراب او پرېشاني به يې ډېره شي، ځکه چې د نفس غوښتنې کومه ټاکلې اندازه نه لري، بلکې همېشه خپل خاوند ته امرکوي، او هغې ته د فریب ورکولو په هڅه کې بوخت وي .

❖ ای هغه پلاره، چې خپل زوی دې له لاسه ورکړی ! تاته په جنت کې د "حمد" په نامه ماڼۍ ودانه شوې ده، ای هغه څوکه ! چې د دنیا له ګټوڅخه بې برخې شوی يې، ستا برخه خوپه هغو جنتونو کې ده، چې ستا انتظارکوي .

❖ مرغه ته په ځاله کې، زمري ته په غار او مېږي ته په سوري کې خوراک نه راځي، دوی ټول خپله رزوي لټوي، ته هم د هغوی په څېرخپلې روزۍ پسې وګرځه، نوهغه څه به لاسته راوړې چې هغوی يې لاس ته راوړي .

❖ دوه مخي خلک داسې انګېري چې هرلوړغږ د هغوی پرخلاف دی، دوی له مرګ څخه مخکې مري، هرې غمیزې ته سترګې په لار وي، د هرې غمیزې اټکل کوي، د هرې اندېښنې له غږ اوخوځښت څخه وېرېږي، ځکه چې زړونه يې له ایمان څخه خالي اونفسونه يې ټوټه ټوټه شوي دي .

❖ کله چې الله په یوځانګړي حال کې پرېښودې بیا د بل حال غوښتنه مه کوه، ځکه چې الله(ﷻ) ستا په ګټه ښه پوه دی، که یې نېستمن کړې داسې به نه وایې چې کاشکې یې شتمن کړی وای، او که یې ناروغ کړې داسې به نه وای چې کاشکې یې روغ کړی وای !

❖ کېدای شي له کوم سفرڅخه پاتې کېدل ستا په خیروي، او د واده نشتوالی ستا له پاره برکت وي، کېدای شي د وظیفې دغوښتنې ځوابېدل به ستا په ګټه وي، ځکه چې الله (ﷻ) په هرڅه پوهېږي او ته نه پوهېږې .

❖ تیږه له ونې څخه کلکه ده، او اوسپنه له تیږې څخه کلکه ده، اور له اوسپنې څخه زورور دی، او باد له اورڅخه کلک دی، خو ایمان بیا له روانوبادونو څخه هم زورور دی .

❖ هرکړاو چې درپېښېږي په حقیقت کې ستا له پاره یو نه هېرېدونکی درس اوهره غمیزه چې درپېښېږي هغه ستا د یادونو په دفتر کې ژوره یادونه وي، په همدې بنسټ ویلی شو چې دا ستا په ذهن کې پراته او تلپاتې کرښې یا لیکې دي .

❖ بریالیتوب د ستونزو، کړاوونو، غمیزو، زخمونو، دردونو، اهونو، او ځورونکو شیانو له ځوځاځکوڅخه عبارت ده،او ناکامي د بېکارۍ، تنبلۍ، کمزورۍ اوسپکاوي له ځوځاځکوڅخه عبارت ده .

❖ هغه کس چې د لندمهالي شهرت مینه وال وي، د ښه یاد، ګټورعلم، پوهې اونېک عمل له لارې د تلپاتې ویاړ هیله نه لري، نو داسې یې وبوله چې دی یوعادي انسان دی چې هېڅ ډول همت اوغیرت نه لري .

❖ پیغمبر(ﷺ) به بلال ته ویل، ای بلاله ! په لمانځه باندې مو زړونه هوسا کړه، یعنې اذان وکړه، ځکه چې لمونځ د ډاډ او راحت یو بهېدونکی نهردی، یو داسې ښکلی او یخ باد دی چې کله په نفس ولګېږي نود وېرې اوخفګان هرډول اور ورڅخه وژنــي .

❖ کله چې ته له خپل رب څخه سرغړونه ونه کړې، پرهېڅ چا تېری ونه کړې، نوبیا په خواږه خوب ویده کېدل درته خوندورشه، بېشکه چې ستا بخت ډېر لوړ اوهڅې دې سپېڅلې دي، ځکه چې ته په دې حالت کې هېڅ ډول دښمن نه لرې.

❖ نېکبختي دهغه چا ده چې شپه يې په ويښه تېره کړې وي اوخلك ورته لاس په دعاء وي، تباهي د هغه چا ده چې شپه يې په خوب تېره کړې وي اوخلك ورته خېرا كوي، او ښه زېرى د هغه چا له پاره دى چې د خلكوپه زړونوكې يې ځاى نيولى وي، هغه څوک زيانمن دى چې ژبې پرې لعنت او بد وايي .

❖ که په دنيوي محکمو کې تاعدل اوانصاف پيدا نه کړ، نوخپله دوسيه دې د آخرت محکمې ته وسپاره، ځکه چې د آخرت په محکمه کې شاهدان پرېښتې دي، دعوه او دوسيې به په کې خوندي وي، قاضي اوفيصله کوونکی يې ترټولوستر ذات الله (ﷻ) دی .

❖ الله (ﷻ) وايي، تاسوما ياد کړئ چې زه تاسو ياد کړم . كه د ذكر له پاره پرته له دې بله هېڅ ګټه نه وی چې الله تعالٰی به د ذکر په بدل کې تا ياد کړي، نودا ترټولوستره اوبشپړه ګټه وشمېره، د الله (ﷻ) له اړخه د انسان يادونه څومره ستر وياړ، سرلوړي، وړاندې کېدنه او شرافت دی .

❖ زېرى دې وي پرتا چې پاکوالی د ايمان يوه برخه ده، ځکه چې هغه ګناهونه له منځه وړي، پرېمينځي يې او تا د ټولواکانو د ټولواک (ﷻ) د ملاقات له پاره پاکوي .

❖ ته خونېکبخته انسان يې چې لمونځ كوې، ځکه لمونځ يو داسې رڼونکی کار دی چې مخکيني ګناهونه له منځه وړي، ستا راتلونکی سموي، له الله (ﷻ) پرته د نورو د غلامۍ زنځيرونه ماتوي، او د دغو ټولو ترڅنګ لمونځ د مسلمان د سترګو سرېښت دی .

❖ هغه څوك چې تل هڅه کوي، چې نورخلک يې درناوی وکړي اود خلکو ترنيوکولاندې رانه شي، نو زياتره دا ډول خلك بدمرغه ژوند لري، مطلب دا چې د ځان د شهرت په موخه هڅه د نېکمرغۍ دښمني ده .

❖ د نېکمرغۍ په اړه يواځې نظرونه، پلټنې او درسونه بس نه دي، بلکې په دې اړه خوځښت،عمل اوهڅې ته اړتيا شته، لکه څرنګه چې د بدن د ګټې او روغتيا له پاره بدني روزنه، هره ورځ يوساعت مزل، سيل ځايونوته تګ هم په کار دي .

❖ ماشی په زمري زيات لګيږي اوهغه تنګوي، خوبيا هم زمری هغه ته هېڅ پام نه کوي اونه ورته ګوري، ځکه چې زمری په خپلومقصدونو باندې بوخت وي .

❖ له نا اميده او بد فاله انسان څخه ګوښه شه، ځکه چې ته به ورته ګل ښيې اوهغه به درته د ګل اغزي در په ګوته کوي، ته به ورته اوبه ورکوې هغه به درته په کې خيري راوباسي، ته به ورته لمرستايې اوهغه به يې له تودوالي څخه درته سرټکوي .

❖ ايا ته په ريښتيا نېکمرغي غواړې؟ که يې غواړې نو ډېر وړاندې ورپسې مه ګرځه، هغه ډېره نژدې ده هغه ستا په خپل ځان کې ده، ستا په نوښتګرفکر، ښکلي خيال، هيله من هوډ اوپه خيرباندې ستا په ځلانده زړه کې پرته ده .

❖ نېکمرغي هغه عطردي چې ته يې په خپلو شا اوخوا خلکو نه شې شيندلی، خو که يوڅوڅاڅکي يې پرتا ونښتل نودا به له امکانه وتلې نه وي .

❖ زموږ بدمرغي داده چې له الله پرته له نورو خلکونه په ورځ کې له شلو ځلو نه ډېر وېرېږو، دا وېره راسره وي چې له کاره به وروسته شو، خطا به شو، بيره به وکړو، فلانی کس راباندې غصه نه شي، فلانی به شك وکړي ....... !

❖ ډېرخلك په دې اند دي چې ګواکې هره خوښي له منځه تلونکې ده، خوپه همدغه مهال کې داعقيده هم لري چې هرخفګان تلپاتې دی، مطلب دا چې د خوشحالی په مرګ باورلري، خود خفګان له مرګ څخه منکردي .

❖ زموږځيني خلک د وړوند ماهي په څېروي، چې په سمندر کې اوسيږي او داسې انګېري چې ګواکې په يوه وړه کاسه کې اوسيږي، موږ هم د ايمان په پراخه نړۍ کی زېږيدلي يو، خو له بده مرغه موږ خپل ځانونه د وېرې، دښمنی، خفګان او ناخوښی په څېر دبدبختيو د غرونوپه منځ کې را ګېرکړي دي .

❖ بېشکه چې ژوندون د درنښت تيوته ده، خو تحفه هم وړ شخص ته ورکول په کار وي، هغوکسانوته چې ژوند خاندي اوهغوی ورته ژاړي، ژوند ورته له خوشحالی نه په خندا وي، خوهغوی ورته خپلې داړې چېنګې کړي وي، بېشکه چې دا ډول خلك بيا د ژوندون وړ نه شمېرل کيږي .

❖ یوه ښکاري طوطي په پنجره کې بند کړ، نو طوطي په سندرو پیل وکړ، ښکاري ورته وویل، ایا دا د سندرو وخت دی، ته په دې حالت کې هم سندرې وایې؟ هغې ځواب ورکړ، ساعت نه تربل ساعت پورې اساني راځي .

❖ یوعالم ته چا وویل، چې ته د پادشاه څنګ ته ولې نه ځې؟ هغه خوخلکو ته له سرو زرو څخه ډك پاکټونه ورکوي، عالم ځواب ورکړ، زه وېرېږم هسې نه چې کله په قهرشي زما سربه غوڅ کړي، له دغو پاکټونوڅخه به یې په یوه پاکټ کې واچوي اوبیا به یې زما مېرمنې ته ډالۍ کړي .

❖ ته ولې د سپیوغېپا اورې اود بلبلوسندرو ته غوږ نه نیسې !؟ ولې د شپو تیارې وینې، خو د سپوږمۍ او ستورو ښکلا ته په کې نظرنه کوې !؟ د عسلود مچۍ له چیچلوڅخه سرټکوې، خو د ګبین له خوږوالي څخه یې سترګې پټوې !؟

❖ ستا پلارآدم (علیه السلام) چې کله د خپلې تېروتنې بخښنه وغوښته، نو رب یې دعاء قبوله کړه اوهغه یې پر نورو غوره کړ، لارښوونه یې ورته وکړه اود هغه له نسل اوتېرڅخه یې پیغمبران، شهیدان، اولیآء اوعلماء را وویستل، پایله دا شوه چې هغه یې د تېروتنې له پړاوڅخه وروسته د مخکینی پړاو پرتله لا نورهم لوړکړ .

❖ نوح (علیه السلام) په داسې حال کې چې طوفان د غرونو په څېرپه څپو کې و داسې غږ وکړ، ای رحمانه ای منانه ! نو د سترګو په رپ کې ورته الٰهي مرسته ورسېده، الله(ﷻ) ورته بریا اوفتحه ورپه برخه کړه اود الله(ﷻ) دښمنان رسوا او تباه شول .

❖ یونس (علیه السلام) د سمندر په تل کې د درېوو تیارو په منځ کې پرېوته، خوخپل رب ته یې یوبېرنی پیغام ولېږه چې په هغه کې یې دخپلې تېروتنې په اړه اقرار وکړ، او د خپلې نیمګړې کړنې په اړه یې ورڅخه بخښنه وغوښته، چې په پایله کې ورته د برېښنا د پړق په څېر د الله(ﷻ) مرسته ورسېده، ځکه چې غوښتنه یې رېښتینې وه .

❖ داود (علیه السلام) په خپلو اوښکوسره خپلې تېروتنې پرېمینځلې چې د توبې جامه یې سپینه شوه، ځکه چې د لباس ټوټه په محراب کې اوبدل شوې وه، ګنډونکی یې هم امین و، بله دا چې هغه د پېشنمي پرمهال پرېمینځل شوې وه .

❖ کله چې ستا کارستونزمن شو، ستونزه دې سخته شوه، له ناهیلۍ سره مخ شوې نوپه دغه وخت کې بیا خلاصون ته سترګې په لار اوسه .

❖ که غواړې چې له اندېښمن حالت څخه ووځې، نوخپله طمع له هرڅه او وړوکي مخلوق څخه پرې کړه، له الله تعالی پرته له نوروسره اړیکې پرېږده او له ټولوانسانانوڅخه هراړخیزه ناهیلي اختیار کړه، بیا وګوره چې څه کیږي ؟

❖ ستا نفس هغه اوبلن شي ته ورته دی، چې د لوښي رنګ خپل رنګ ته را اړوي، که ستا نفس نېکمرغه وي نوته به هرومرو نېکمرغي، خیر اوښایست وګورې او که ستا نفس تنګ اوبدفاله وي، نو بېشکه ته به بد مرغي شر اوبدي ګورې !

❖ کله چې تا د الله(ﷻ) بنده ګي وکړه، په خپل روان حال دې خوښي څرګنده کړه، د لاسه وتلي شي په اړه دې له زغم څخه کار واخیست، نوبېشکه چې ته خپلې ټاکلې موخې ته ورسېدې، او هره سپېڅلې موخه او د زړه غوښتنه دې ترلاسه کړه!

❖ څوك چې په خپل زړه کې د ایمان او ذکر له ښکلي بڼ اوپه ذهن کې د پوهې اوتجربو له زرغونې باغچې څخه برخمن وي، نوهغه دې بیا په هېڅ دنیایي شي چې له لاسه یې ورکړی وي نه خفه کیږي .

❖ څوك چې خپله نېکمرغي اوخوشحالي دخپل مسافر زوی د راتګ، د خپل کورد ودانولو یا د دندې ترلاسه کولو پورې ایساروي، دا ډول کسان داسې غولېدلي دي لکه څوك چې د وېښې په خوبونو دوکه کیږي .

❖ نېکمرغي په پوره بې پروایۍ، د دروغجنواندېښنواو وېرې په غورځولو

کې نغښتې ده .

❖ خندا او ورین تندی روا کوډی، د مینې سودا او د وروګلوۍ خبرتیا ده، او پرهمدغه مهال یو داسې بېړنی پیغام دی چې له ځان سره سوکالي، سلامتیا او مینه لیږي، همدارنګه یوه منل شوې صدقه ده چې د همدغه انسان خوښي، ډاډ او ټینګ قدم ښه څرګندوي .

❖ زه تا له ګډوډۍ او ناسم ژوند څخه ایسارول غواړم، دا هم باید ووایم چې د دغې ناخوالي لامل له نظام اوترتیب څخه مخ اړونه ده، چاره یې دا ده چې هر انسان باید د خپل ژوند له پاره یوټاکلی اوبرابـرمهالوېش ولري، چې له پوره حقیقت او وړتیا څخه برخمن وي .

❖ که کله درباندې کومه غمیزه اوسختي راغله، نوبیا د هرې ورځې په تېرېدو سره خوښي څرګندوه، ځکه چې د وخت تېرېدل ستا له کړېدلي ژوندڅخه عمرکموي، یعنې ستونزه د انسان په څېریو ټاکلی عمر لري چې له خپلې اندازې څخه هېڅ تېرى نه کوي .

❖ تاته پکاردي چې د دنیوي غوښتنواو اړتیاوو په اړه یوه ټاکلې پوله ولرې، چې له هغې څخه به سرغړونه نه کوې، د بېلګې په توګه : د استوګنې له پاره باید یو کور، له خپل شان سره وړ یوه دنده او د سپرلۍ یوه وسیله ولرې، خوکه ته د امیدونو اوغوښتنو دروازه په پوره ډول پرانیستې وساتې او بې کچه لېواله اوسې، نو دا بیاستا څرګنده بدمرغي ده .

❖ الله پاک وایی، بېشکه موږ انسان په ستونزو اوکړاوونو کې پیدا کړى دى د انسان په اړه دا یوه الٰهي نه بدلېدونکې لاره ده، انسان باید په دې باندې اقرار وکړي چې هغه په ستونزو او هڅو کې تل بوخت دى، نو باید له خپل ژوند سره په ښه توګه وچلیږي .

❖ هغه څوک چې خپله ټوله ورځ په لوبو، ښکار، مستیو او بې ګټې کارونو کې تېروي، هغه داسې انګېري چې له نېکمرغۍ څخه به برخمن وي، خو پر دې لا پوه نه دى چې هرومروبه دخپلو دغوکړنوقیمت په پرلپسې توګه په غم او اندېښنو سره لاس ته راوړي، ځکه چې دا کس د ضرور او ناضرور شیانوترمنځ پرتله کولوکې پاتې راغلى دى .

❖ په خپل ژوندکې له بې ګټې شیانوڅخه ځان خلاص کړه، ان که ستا په جیب اومېزباندې بېکاره کاغذونه هم پراته وي هغه لرې کړه، ځکه هرشى چې له اړتیا څخه واوړي زیانمن شي .

❖ د رسول الله (ﷺ) سپېڅلي اصحاب ترټولونېکمرغه انسانان وو، ځکه د هغوى په زړونوکې چې کومې وړې غوښتنې وې، دومره ژوره پاملرنه یې ورته نه کوله، د ساده کارونو او اندېښنو پروا یې نه ساتله، بلکې ټوله پاملرنه یې بنسټیزو کړنو ته وه اوځانونه یې په موخیزو چارو بوختول .

❖ د هر ډول عبادت کولوپرمهال تاته په کار دي چې پوره پاملرنه وکړې او د زړه حضوردې برابرکړې، ځکه په هغه علم کې خیرنه وي چې د زړه له پوهې نه بې برخې وي، نه په هغه لمونځ کې خیرشته چې له عاجزۍ څخه خالي وي، نه په هغه تلاوت کې خیر شته چې ژورفکرپه کې نه وي .

❖ الله(ﷻ) وایی: پاکې ښځې د پاکوسړو له پاره دي . یعنې پاکیزه خبرې، کړنې، خویونه، اداب اومېرمنې، د نېکانوخلکوپه برخه وي، چې د دې لېدنې په پای کې د هغوی نېکمرغي بشپړه شي او له هراړخیزې مینې اوبریالیتوب څخه برخمن شي .

❖ اوپرهېزګاران قهراوغصه زغمي . یعنې غصه په خپلوسینوکې ایساروي او نه پرېږدي چې نښې یې څرګندې شي، په دې حالت کې ستغه او سپوره نه وایي، زیان نه رسوي دښمني نه کوي، بلکې خپل ځانونه قابوساتي او له غچ اخېستلو څخه ډډه کوي .

❖ پرهېزګاران بخښنه کوي ،هغه خلك دي چې بخښنه او پوره نرمي څرګندوي، هغو خلکو چې ورته یې زیان رسولی وي هغوی له قید څخه خلاصوي او په یواځې قهرزغملو یې بسوالی نه دی کړی، بلکې سربېره پردې له زغم، حوصلې او بخښنې څخه یې کاراخیستی دی .

❖ الله پاک وایی، بېشکه چې الله احسان کوونکي خوښوي. او دا هغه کسان دي چې چا پرې تېری کړی وي دوی ورته بخښنه کوي، بلکې په ښېګڼه، مال، شان اوشوکت باندې یې ورسره هراړخیزه مرسته هم کړې وي، یعنې خلک ورسره بدي کوي خو دوی ورسره مرسته اونېکي کوي، ښکاره ده چې دا ډول خلك د لوړو درجو اوسترو پوړیو وړ دي .

❖ هغه کار چې ستا د نېکمرغۍ لامل وي ځان ته یې څرګند او پوره روښانه کړه، د ځان له پاره داسې یوه کړنلاره جوړه کړه، چې په هغې کې ته خپل ترټولو خوښ اونېکمرغه ټکی ولیکي، د بېلګې په ډول، ایا دا ښه حالت درته له یوه شخص سره تر لیدنې وروسته درپه برخه شوی ؟ ایا یوه ټاکلي ځای ته د تګ له امله درته پېښ شوی؟ که د یوه ځانګړي کارد کولوپه پایله کې درپه برخه شوی؟ که په یوه ګټور، ټاکلي نظام باندې وچلیږې، نو دا هم په خپله کړنلاره کې ولیکه، کله چې دې یوکار وکړ نو ته به یوه اوونۍ وروسته ووینې، چې تا دخپلې نېکمرغۍ په اړه د نظرونو یوه روښانه اوښه کړنلاره ترلاسه کړې ده .

❖ د خوشحالوونکو کارونوپه کولوځان عادت کړه، هغه شیان چې تاته په کې خوښي ښکاري، هغه په نښه کړه، بیا له خپل ذهن څخه هرڅه وباسه، هغه کارونه چې تاخوشحالوي هغه نورهم ټینګ کړه اوکوم چې دې نه خوشحالوي هغه هېرکړه، له دې وروسته خبره ښکاره ده چې نېکمرغۍ ته د رسېدلود هڅې په اړه کلکه پرېکړه په خپل ذات کې یوه خوشحالوونکې تجربه ده .

❖ پرخپل ځان خوښ اوسه، اود زړه له کومې هغه ومنه، دا ډېره د پام وړخبره ده چې ته باید دخپل ځان په اړه داسې یو تصمیم ونیسې، چې ته په کې خوشحاله شې، که ته د اسلام په سمه لار برابر یې نوهغه نیوکو ته چې ته یې هدف یې، هېڅ پام مه کوه، ځکه چې نېکمرغي له هغه ځایه تښتي، کوم ځای ته چې شك ننوځي یا هلته د ګناه وړمه وي .

❖ د خلکوخدمت او ښه کارکوه، ځانته اوګوښه مه اوسېږه، ځکه ځانته والی د هرې تباهۍ سرچېنه ده، خوهره غمیزه، پرېشاني، تباهي او فکرخرابېدل په هغه وخت کې له منځه تللی او ورکېدای شي، چې ته له خپلې کورنۍ اونوروخلکوسره جوښت اوسېږې، هغوی ته څه خدمتونه وړاندې کړې، نوځکه ارواح پوهانو د نفسي ناروغ د درملنې له پاره ښه نسخه دوه اوونۍ د نوروخلکوخدمت کول اغېزمن درمل بللي دي .

❖ خپل ځان تل بوخت ساته، تاته په کاردي چې د پوره فکر پربنسټ دا هڅه وکړې چې خپلې زیاتره لارې چارې ولټوې، که ځان د ښو او نا اشنا کارونوپه کولو بوخت وساتې، نوته به په خپله پوه شې چې څومره خوشحالي دې په برخه شوې وي، خو سستي او پرېشاني د زړه خفګان ته وده ورکوي .

❖ له نفسي اوذهني اندېښنوسره لاس او ګرېوان شه، که کوم شي خفه اوتنګ کړې، نوکوښښ وکړه چې د خپلې خوښې یوه بدني روزنه سرته ورسوې، په پای کې به ته وګورې چې ستا ذهني اونفسي حالت څومره ښه والی پیدا کړی دی، هغه کارچې ته یې په تېرو وختونوکې په کولوخوښېدلې هماغه بیا هم ترسره کړه، لکه کومه ټاکلې بدني روزنه یا له ملګرو سره چکرته تلل !

❖ کوم کارچې دې بشپړکړی نه وي ځان پرې مه ځوروه، ته باید په دې خبره پوه شې چې د لویانو خلکوکارونه پای نه لري، ځینې خلك داسې انګېري چې ترڅو یې خپل ټول کارونه بشپړکړي نه وي ترهغه مهاله به دوی نېکمرغي ونه مومي، نوکوم شخص چې مسوولیت ولري هغه کولی شي له ناغېږۍ پرته د

خپل کارهغومره برخه سرته ورسوي څومره چې شوني وي، بلکې په همدې وخت کې کولی شي له خوشحالۍ څخه خوند واخلي، خو په دې شرط چې په کارکې يې نيمګړتيا نه وي کړي !

❖ سيالۍ اومقابله کې تېزي مه کوه، ته بايد پرخپل ځان باندې له توانه پورته زور ونه کړې، پرته له دې چې د برياليتوب موخه دې خپله نېکمرغي ټاکلې وي، نو له هيڅا سره په يوه کارکې سيالي ونه کړې !

❖ خپلې ولولې بندې مه ساته، د ولولو کوبل او ټومبل ذهني ګډوډي منځته راوړي او د خوشحالۍ په وړاندې سترخنډونه پيداکوي، لنډه دا چې خپلې ولولې پټې مه ساته، بلکې په داسې يو وړعبارت يې څرګندې کړه چې هغه ستا له نفس څخه هغه فشارونه له منځه يوسي، چې د همدغو ولولو له امله درته درپېښ شوي وي .

❖ د بل چا پړه پرخپله غاړه مه اخله، ډېر وخت ځيني خلك د يوه بل شخص د پرېشانۍ اوغم له امله خپل ځان ملامت ګڼي، د خفګان، مسووليت اوغلطي احساسوي، سره له دې چې هغه به له پېښ شوي مشکل څخه په غوڅه توګه پاك وي، نو تاته دا زده کړه په کارده چې هر انسان يواځې د خپل ځان په اړه مسؤول دی . دا سمه ده چې خواخوږي او مرسته کول يوغوښتل شوی کار دی، خو هرڅه ځانته خپله اندازه لري اوپه هرکارکې لومړيتوبونه شرط وي، بل دا چې انسان پر خپل ځان ترهرچا ښه پوهيږي . هېڅ ګناه کوونکی نفس د بل چا ګناه په خپلو اوږو نه شي بارولی .

❖ خپل تصميم سمدلاسه ونيسه ! څوک چې خپلې پرېکړې د اوږد وخت له پاره ځنډوي، نوپه حقيقت کې خپله خوشحالي ځوساعتونو، ځوورځو اوځومياشتوته وروسته کوي، دا خبره په ياد وساته چې که ته سمدلاسه کومه پرېکړه کوې، نومعنا به يې دا نه وي چې ته له هغه پرېکړې په هېڅ شکل سره په شا کېدلای او يا په کې څه بدلون راوستلای نه شې .

❖ د خپل ځان په قدرپوه شه، که کله د يو کار پيل کول غواړې، نو د پوهانو دا وينا په ياد ولره چې وايي :الله تعالی دې پرهغه چا باندې رحم وکړي، چا چې د خپل ځان قدر پېژندلی وي . د بېلګې په ډول که ته د پنځوس کلنۍ پړاو ته ورسېږې او ته غواړې چې يوځانګړی ورزش وکړې، نوبايد په مزل، لامبو، ټينس اودې ته ورته په نورو لوبو چې ستا له عمرسره وړ ښکاري فکر وکړې،

نه دا چې د فوټبال - د پښې پنډوسه - په ځښر ورزش ته پام ورواړوې، زيار وباسه چې د خپلو مهارتونو ودې ورکولو ته دوام ورکړې .

❖ د خپل ځان پېژندنې په زده کړه ځان پوه کړه، د ځان پېژندنې له پوهې پرته که داسې ژوند کوې چې ځان ته په کې وخت نه ورکوې، چې په ژوند کې ستا حالات، دندې اومسووليتونه برابرکړي، نو دا يوه ستره ناپوهي ده . نوهغه کسان چې خپل ځانونه نه پېژني په حقيقت کې هغوی خپل توانونه او وړتياوې نه پېژني .

❖ د ورځني ژوند په کارونو کې له اعتدال - منځلارې - څخه کار واخله، يعنې که کولای شي نو د وخت يوه برخه د ارام له پاره وټاکه، ( ټول وخت په کار کې مه تېروه)، د "اغريق" داسې عقيده وه چې له وخت څخه بې برخې سړی راحت نه شي کولی، چې خپل انسانيت خوندي وساتي .

❖ د سختوحالاتود مقابلې له پاره تل چمتو اوسه ! د هوسا ژوند تېرولو يواځينی لار دا ده، چې د ژوند په اوږدو کې بايد له ناڅاپي خطرونوسره مقابله وکړای شې، ترهغې پورې به څه شی زده نه کړې، ترڅود ژوند دستونزو د مقابلې له پاره ټينګ هوډ ونه لرې، د بېلګې په ډول، که غواړې چې په اوبوکې د ډوبېدو د خطرمخه ونيسي نو لامبوزده کړه .

❖ داسې قولف نشته چې خلاص نه شي، داسې زولنه نشته چې نه خلاصيږي، داسې لرې شی نشته چې رانژدې نه شي، او داسې مسافر نشته چې کور ته به نه راګرځي، دا هرڅه په ټاکلي وخت او نېټه باندې سرته رسيږي .

❖ په صبر اولمانځه سره له الله څخه مدد وغواړئ. ځکه چې دا دواړه کارونه د ژوند د سوند مواد، د سفرتوښه، د ښوهيلو دروازه او د خلاصون کيلي ده، که چا له صبرڅخه کار واخيست او لمونځ يې ټينګ کړ، نودغه شخص ته په ريښتني سباوون، ښکاره برياليتوب او نژدې مرسته باندې زېری ورکړه .

❖ بلال (رضي الله عنه) د مشرکينو له خوا په دورو ووهل شو، وټکول شو، د ځمکې پرمخ راکاږل شو، عذاب ورکړشو، وشړل شو، خوبيا يې هم د(احد،احد) غږ کاوه، ځکه چې د ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ اَحَدٌ ﴾ په معنا پوه شوی و، کله چې هغه جنت ته داخل شو، نوخپله قرباني اوعمل يې کم وګڼل، ځکه چې د سامان ارزښت له نغدو روپو- عمل- پرتله څوچنده زيات و.

❖ دنیا څه ته وايي ؟ که جاموته وايي نو که هغه قیمتي وي ته مجبور يې چې ښې يې وساتې او خدمت يې وکړې، خوهغه ستاخدمت نه کوي، که مېرمن ته وايي نو که هغه ښایسته وي د محبت له امله به پرې کرېږې، که ډېر مال ته وايي نوکه هغه ډېرشي ته به د هغې خزانه دار او څارونکی شې، دا د دنیا خوشحالي ده نوغم به يې څرنګه وي ؟

❖ ټول هوښیاران د نېکمرغۍ د لاسته راوړلو هڅه کوي که په پوهه، مال او که په منصب سره وي، خوپه دوی کې تر ټولونېکمرغه د ایمان څښتن دی، ځکه چې له خپل رب سره ترمخامخېدو پورې یې نېکمرغي په هرحالت کې تلپاتې وي .

❖ د شك، غصې، ناخوښۍ، نیوکو اونفسي غوښتنو په څېرله ناوړو ناروغیو څخه د زړه سلامتیا، له عقیدوي ناروغیوڅخه ځان پاکول د نېکمرغۍ له ځنځیر څخه شمېرل کیږي .

❖ ډېرهوښیارهغه څوک دی چې خلک معذور وګڼي، یعنې د نوروخلکو کړنې اوخبرې په ښه ډول سره انځوروي، یا دا چې هغه داسې یوشخص دی چې خلك له ده او دی له خلکوڅخه په راحت کې وي .

❖ الله (ﷻ) موسی (علیه السلام) ته وایی هغه څه واخله چې ما درکړي دي او شاکر اوسه.

❖ پرخپلوشتو قناعت وکړه، پرخپل قسمت - برخه - خوښ اوسه، کوم ذهني قابلیت چې لرې هغه ته وده ورکړه، خپل توان په ګټوروشیانو کې وګوماره او الله تعالی چې کومې پېرزوینې درپه برخه کړي دي دهغې له امله یې ستاینه وکړه .

❖ ټوله ورځ باید یوکار ونه کړې، لکه ټوله ورځ په لوستلو، فکرکولو، لیکلواو یاحفظ کولوتېره کړې، بلکې له هرکارڅخه یوه برخه ترسره کړه اوپه یوه ورځ کې څو ډوله کارونه وکړه، ځکه چې په دې سره نفس نور هم تکړه کیږي .

❖ پنځه وخته لمونځونه ستا وختونه سموي، نو له هرلمانځه څخه وروسته باید یوګټور کار په نظرکې ولرې .

❖ د بنده خيرپه هغه څه کې دی چې الله (ﷻ) ورته غوره کړی وي، ځکه چې الله(ﷻ) د بنده پرحال له ده څخه ښه پوهيږي، او پر بنده باندې دهغې له مور څخه چې زېږولی يې دی خورا مهربان دی، نو بنده پرته له دې چې د خپل رب په پرېکړه خوښي ښکاره کړي، خپل کار وروسپاري اوخپل پالونکی، بادار او خالق د ځان له پاره کافي وګڼي بله لار نه لري .

❖ انسان له دې امله چې کمزوری او ناتوانه دی پرهغه څه نه پوهيږي، چې د غيبي پردو ترشا دي، يواځې له څرګندو شيانو پرته نورهغه شيان نه ګوري، چې له سترګوپناه دي، غيبي پوهه خو يواځې الله(ﷻ) ته شته او بس، پرهمدې بنسټ ډېر وخت ګورو چې يوه ستونزه په نعمت بدله شي، ډېرځله يوکړاو په الٰهي ورکړه بدل شي، نو د انسان خيرپه هغو شيانوکې تاو شوی دی، چې ورته په سترګو ښه نه لګيږي .

❖ زموږ د ټولو پلار آدم (عليه السلام) له ونې څخه خوراك وکړ، چې په همدې کارسره يې د الله(ﷻ) له امره سرغړونه وکړه، او په پای کې الله(ﷻ) هغه ځمکې ته راکوزکړ، د پېښې ښکاره اړخ خودا دی چې آدم (عليه السلام) ښه اوسم ځای پرېښود، نو له بد سرنوشت سره مخامخ شو، خوحقيقت بل ډول دی، يعنې ډېره ښه پايله ورپه برخه شوه، ځکه چې الله(ﷻ) د هغه توبه قبوله کړه، لارښوونه يې ورته وکړه، پيغمبري يې ورکړه، له نسل څخه يې پيغمبران، علماء، شهيدان، اوليآ، مجاهدين، عابدان او د الله(ﷻ) په لار کې قرباني ورکوونکي خلك راميدان ته شول، سبحــان الله! تا سو وګورئ چې د آدم (عليه السلام) د دواړو حالتونو په منځ کې څومره توپيردی، لومړی هغه حالت چې الله(ﷻ) په دې قول کې ياد کړی دی: ای آدمه ته اوستا مېرمن په جنت کې اوسيږئ او د جنت له مېووڅخه پرېمانه وخورئ ! دوهم حالت چې الله (ﷻ) په دې قول کې ياد کړی دی : بيا الله هغه غوره اوانتخاب کړ، توبه يې ومنل شوه او الله ورته لار ښوونه وکړه . نو لومړی حالت له استوګنې، خوراك او څښاك څخه عبارت و، چې دا دعامو خلکوحال هم دی او کومه ځانګړې موخه نه ده، خودوهم حالت د انتخاب يا ځانګړي کېدو، پيغمبرئ او لارښووني حال دی چې دا يو لوی شان او ستر وياړ دی .

❖ وګوره داود (عليه السلام) تېروته، خو سمدلاسه پښېمانه شو، الله پاك ته يې وژړل، په پای کې ورته تېروتنه په سترنعمت بدله شوه، ځکه چې هغه خپل رب په صحيح معنا د يوه منونکي او عاجز بنده په څېرپېژندلی و، او د بنده ګئ

موخه همدا ده، څکه چې د بنده ګی له بنستونوڅخه یوهم الله(ﷻ) ته زاري اوبشپړ تسلیمېدل دي .

❖ ابن تیمیه(رحمه الله) څخه د دې حدیث مبارك په اړه پوښتنه وشوه چې : الله تعالٰی د مؤمن په اړه د داسې یوه کارفیصله نه کوي چې د هغه په کې خیرنه وي . له ابن تیمیه (رحمه الله ) نه پوښتنه وشوه چې ایا دا حدیث د بنده په اړه د ګناه تقدیرته هم شاملېږي اوکه څرنګه؟ نوهغه وویل هو! خو د پښېمانتیا، توبې او عاجزۍ څرګندولوپه شتون کې . نو جوته شوه چې د بنده په اړه د ګناه پرېکړه او برخلیک خوپه ښکاره ډول د بنده له پاره ناخوښه او ناوړه وي، خو د یوه ټاکلي شرط ـ توبه ویستلو او پښېمانتیا۔ په شتون کې کېدای شي په پټه توګه د خوښۍ لامل هم وګرځي .

❖ د الله( ﷻ) غوره بنده او پیغمبرمحمد(ﷺ) ته چې له تکلیفونو وروسته کوم خیرالله ورپه برخه کړهغه یوڅرګند حقیقت دی، څکه چې هره ستونزه ورته ورسېده، راتلونکي وخت دا وښوده چې هغه د یوه ستربریالیتوب اوخوشحالۍ پېلامه وه، قوم یې پیغمبري په دروغو وګڼله، د جنګ او دښمنۍ لار یې ورسره ونیوله چې په څرګنده توګه دا یو ناوړه کاردی، خوپه حقیقت کې په راتلونکي وخت کې د غېو لاسته راوړنولامل وګرځېده، لکه : د جهاد د بازارجوړېدل، د الله تعالٰی له دین سره مرسته او دهغه په لارکې قرباني، هاغه غزاګانې چې الله(ﷻ) د خپل ګران پیغمبر(ﷺ) مرسته په کې وکړه، چې د بریالیتوب لامل شو، په همدغوغزاګانوکې الله(ﷻ) د مؤمنانوله جملې څخه ځینې خپل ځان ته وبلل ـ شهیدان یې کړل ـ او په پای کې یې ورته جنت تلپاتې استوګنځی وګرځوه، که د کافرانو له اړخه دغه مقابله او غبرګون نه وی، نو دا سترخیر به کله د مسلمانانو په برخه شوی وی ؟.

❖ کله چې رسول الله(ﷺ) له مکې مکرمې څخه وتلو ته اړ شو، نوپه ښکاره ډول دا هم ښه کارنه و، خوکه ځیرشونود دې ترشا لوی خیر، کامیابي او ښېګڼه نغښتی وه، څکه چې رسول الله(ﷺ) دهمدغه هجرت په برکت سره اسلامي حکومت په پښو ودراوه، ملاتړي یې پیدا کړل، مؤمنان او رېښتیني خلک له کافرانو او دروغجنوڅخه په ایمان جهاد اوهجرت کې بېل شول، د اُحد په غزا کې چې کله رسول الله(ﷺ) او اصحاب یې د جګړې په ډګرکې پاتې راغلل، نوپه ښکاره ډول یو ناوړه حالت و، چې پرمسلمانانو باندې سخت تمام شو، خوترشا یې داسې د خیر رازونه پراته وو چې دلته یې د ټولویادونه سخته ده د بېلګې په توګه : د دې څرګندې ناکامۍ په واسطه الله(ﷻ) د ځینو له زړونوڅخه هغه غرور او پرځپلو

ځانونو باندې وياړ وويست، چې د بدرپه غزاکې ورته د برې له امله پيدا شوی و، همدارنګه په دې غزا کې الله(ﷻ) ځينو اصحابو ته دشهادت وياړ ورپه برخه کړ، لکه د شهيدانوسردارحمزه ابن عبد المطلب، د اسلام سفيرمصعب بن عمير، عبدالله بن عمروالانصارى(رضى الله عنهم) يعني د جابر(رضي الله) پلارله چاسره چې الله (ﷻ) خبرې کړې دي، او دوی ته ورته نور کسان. د اُحد غزا وه چې منفاقان په کې الله(ﷻ) رسوا کړل، د هغوی پټ رازونه اوکړنلارې يې څرګندې کړې، اود رسول الله(ﷺ) ټول هغه حالات اومقامونه په دغه حالت باندې پرتله کړه په کوم کې چې په ښکاره ښه ستونزه پرته وه، خوپه پټ ډول هغې کې رسول الله(ﷺ) او ټولو مسلمانانوته خير پروت و .

❖ ځوك چې په دې پوه شوچې د مسلمان په اړه د الله (ﷻ) هرډول پرېکړه او برخليک د بنده په ګټه دی، نوڅرګنده ده چې بيابه پرې ټولې غميزې اسانېږي، د الله تعالٰی د مهربانۍ او رحمت هيله به ورسره پيدا کيږي، په ورپېښ شوي حال به خوښ وي او د خپل ښه راتلونکي وخت زېرى او پيلامه به يې ګڼي . د دې هيلې په درلودلو به بيا له دغه انسان څخه هرډول خفګان، زړه تنګي اواندېښنې له منځه ځي، هغه به بياخپل ټول کارونه الله(ﷻ) ته سپاري، په هرډول پرېکړو به بياهېڅ ډول نيوکه نه کوي، نه به يې غندي اونه به په غصه کيږي، بلکې د الله شکربه پر ځای کوي، له زغم څخه به کاراخلي، تردې پورې چې د ښو پايلو رڼا ورته وځليږي اود کړاوونو وربېځې به ورڅخه کډه وکړي .

❖ نوح (عليه السلام) نهه نيم سوه کاله په دعوت کې کړاوونه وزغمل، له پوره زغم څخه يې کار واخيست، توحيد ته د بلنې په نيت يې شپه او ورځ په پټه او ښکاره ډول کاروکړ، په پای کې الله پاک هغه وژغوره اود ښمن يې ورته د طوفان په څپوکې تباه کړ .

❖ ابراهيم (عليه السلام) د مشرکينو له خوا په اور کې اچول کيږي، خو الله (ﷻ) په خپل قدرت سره په هغه باندې اور په برابره توګه يخ کړ او ويې ژغوره، الله(ﷻ) هغه د نمرود او د هغه د قوم له چل ول څخه ژغوري، پرهغوی يې برلاسی کوي او دين يې د تل له پاره پرځمکه حاکم ګرځوي .

❖ موسٰی(عليه السلام) د الله تعالٰی د ستر دښمن فرعون له بېلابېلو چلونو او ستونزو سره مخ کيږي، شړل کيږي، خو له دغو ټولوسره بيا هم الله(ﷻ) هغه ته په خپل دښمن فرعون برى ورپه برخه کوي، داسې يوه امسا ورکوي چې هغه پرې ټوله هغه کوډګره لوبه له تېغه تېروي چې هغوی رامنځته کړې وه، الله(جل

جلاله) دهغه په مخ سمندر دوه پرکه کوي، په داسې ډول یې ورڅخه وراړوي چې هېڅ بشر یې نه شي انځورولای، دښمن تباه اوهمېشه یې له رسوایۍ سره مخ کوي .

❖ له عیسی(علیه السلام) سره بني اسرآئیل جنګیږي، هغه ته د تېر، مور او دعوت په اړه کړاو ورپېښوي، د وژلوهڅې یې کوي، خوالله (ﷻ) هغه خپل ځان ته وربولي، ستربریالیتوب ورپه برخه کوي اودښمنان یې له زیان او مخ تورۍ سره مخامخوي .

❖ زموږ پیغمبرمحمد(ﷺ) د مشرکانو، یهودو اونصاراوو له خوا له سختو کړاوونو او ځورونوسره مخ کیږي، ډول ډول مشکلات ګالي، دروغجن ورته ویل کیږي، مخې ته یې خلک ودریږي، ملنډې ورپورې کیږي، کنځل کیږي ، د شاعر، دروغجن، کوډګراو لېوني په څېر په ناوړو نومونو نومول کیږي، له پلرني ټاټوبي څخه شړل کیږي، جنګ ورسره کیږي، ملګري یې شیهدانیږي، ځورول کیږي، د هغه په پاك لمنه مېرمن تورلګیږي، ډول ډول ستونزې ګالي، د بهرنیو یرغلونو ګواښونه ورته کیږي، لوږه اوبېوزلي پرې تېریږي، زخمي کیږي، دوه غاښونه یي په شهادت رسیږي، هاغه کاکا له لاسه ورکوي چې د ده ملاتړبه یې کاوه، د مومنانو د مور،خدیجه(رضي الله عنها) په څېرمېرمن یې وفات کیږي، چې ډېره خواخوږې یې ورسره ښودله، د مشرکینو له خوا په "شِعب" کې قلابند کیږي، ترڈې چې ګران پیغمبراوملګري یې د ونو د پاڼوخوړلوته اړکیږي. په خپل ژوند کې د خپلو لوڼو مړینه ګوري، په مخ کې یې د ګران زوی "ابراهیم" روح وځي، په خپل ژوند کې څوځله د قتل اوترور له هڅوسره مخ کیږي، داسې یو وخت هم پرې راغلی چې د لوږې له امله یې تیږه په ګېډې پورې تړلې ده، داسې هم شوي چې د وربشو ډوډۍ یا خرابه خرما یې هم نه ده موندلې چې هغه وخوري، د اُحد په غزا کې له ماتې سره مخ کیږي، په همدغه ځای کې یې تره حمزه (رضي الله عنه) ټوټه ټوټه کیږي، په خپل ژوندکې ډېرکړیږي، له اصحابوسره یې ستونزه سخت لړزوي، د خطرونو له امله یې زړه ستوني ته راځي، خپلوموخوته د رسېدلوپه لارکې له ډېرو ټکرونوسره مخ کیږي، د ظالمانو اوکبرجنوخلکو له غرور، د باندېچیانوله بې ادبۍ، د شتمنو د کبر، د یهودو د کینې، د منافقینو د دسیسو، د دعوت په لارکې د خلکو له نه منلو یا وروسته والي سره مخامخیږي، او داسې نورې بېشمېره ستونزې یې لیدلي دي، خو بیا یې هم ښه پایله ورپه برخه کیږي، الـهي مرسته یې ملګرۍ او بریالی کیږي . نو الله (ﷻ) د خپل بنده محمد (ﷺ) دین او شریعت څرګندوي، د کافرانو ډلې او ټولي ته ماتې ورکوي، او دښمن

له پوره سپکاوي سره مخ کوي، بېشکه چې الله پرخپلوکارونوباندې پوره برلاسه دی، خو ډېرخلک نه پوهيږي .

❖ ابوبکرالصديق (رضي الله عنه) د اسلام په لار کې ستونزې ګالي، مالونه لګوي، په قوم کې خپل شان او شوکت له لاسه ورکوي، دالله تعالیٰ په لار کې هر ارزښتناک او ارزان شيان مصرفوي، چې په پای کې يې د "صديق" په لقب ګڼلو بريالی کيږي .

❖ عمربن الخطاب (رضي الله عنه) په محراب کې په خپلوپاکو وينوکې له داسې ژونده وروسته شهيد کيږي چې دهغه ټول ژوند له جهاد، قربانۍ، سربښندنو، پرهېزګارۍ، عاجزۍ اوعدالت څخه ډك و .

❖ عثمان بن عفان (رضي الله عنه) د قرآنکريم د تلاوت په حالت کې د باغيانوله خوا په شهادت رسيږي اوخپل روح دخپلو لوړو موخو په خاطرقربانوي .

❖ علي ابن ابي طالب (رضي الله عنه) د اصولي اوکلکو دريځونو، قربانۍ، سربښندنې، د دين د مرستې او رېښتينولۍ په څېر له لوړوکارنامو او وياړونوڅخه وروسته په مسجد کې د ظلم په کمين کې په شهادت رسول کيږي .

❖ حسين بن علي(رضي الله عنهما) ته الله تعالیٰ دشهادت مقام ورپه برخه کوي او د ظلم په توره شهيد کيږي .

❖ عبدالله بن الزبير(رضي الله عنه) ته الله تعالیٰ په خپل پاك حرم کې د ظالم "حجاج" په لاس د شهادت وياړاوعزت ورپه برخه کوي .

❖ امام ابوحنيفه (رحمه الله) د ابوجعفرمنصورله خوا د قضا د منصب د نه قبلولواوحقپالنې له امله په دورو وهل کيږي، بندي کيږي، په شهادت رسيږي، خو الله (ﷻ) يې نوم په ټوله اسلامي نړۍ کې ځلوي .

❖ سعيد بن جبير(رحمه الله) چې يو سترتابعي و د "حجّاج" په لاس په بې رحمانه توګه په شهادت رسول کيږي .

❖ امام احمد بن حنبل (رحمه الله) له حق څخه د دفاع په لار کې بندي کيږي، په دورو وهل کيږي، خوپه پای کې د اهل سنت اوجماعت سترامام کيږي .

❖ امام احمد بن نصرالخزاعي چې يو ستر داعي و، د حقپالنې له امله د عباسي خليفه "واثق" په لاس شهيد کيږي .

❖ ابن تيميه(رحمه الله) بندي کيږي، له خپلې کورنۍ، ملګرو او کتابونوڅخه بېليږي، خو الله (ﷻ) يې نوم په ټولوخلکو کې لوړکړ .

❖ همدارنګه حقاني عالم "سعيد بن المسيب" د مدينې د والي په لاس په دورو وهل کيږي .

❖ د هجرت د ديار امام مالك بن انس (رحمه الله) هم د مدينې د والي له خوا په دورو وهل کيږي .

❖ د حديثوسترعالم امام عبدالله بن عون د "بلال بن ابي برده" په لاس وهل کيږي .

❖ که زه ـليکوال- وغواړم تاسوته هاغه خلك وشمېرم، چې د ظالمانوله خوا له کارڅخه ګوښه يا بنديان شوي، يا په دورو وهل شوي، يا وژل شوي او يا نور تکليفونه ورته رسېدلي دي، نو دا به د موضوع د لا اوږدېدولامل شي، بلکې د کومو بېلګو مو چې دلته يادونه وکړه همدومره بس دی .

***

## پايله

راشه چې زه او ته دواړه د هغه ذات چې غني، واحد، بې نيازه، تلپاتې ژوندی، قيوم، کار رغوونکی، چې لويوالی، جلال اوعزت لري، په در کې يې پرېوځو، د هغه د وحدانيت دروازې ته ورشو، لاس ورته پورته کړو او زارۍ ورته وکړو، په غوښتنه کې ورڅخه ټينګار وکړو، د هغه لورېينوته سترګې په لار اوسو، ځکه چې هغه شفا اوعافيت ورکوونکی ذات دی، هغه زموږ له پاره کافي دی، هغه زموږ پيدا کوونکی، روزي ورکوونکی، ژوندی کوونکی اومړکوونکی رب دی . ﴿ ربّنا آتنا في الدّنيا حسنة و في الاخرة حسنة وقنا عذاب النّار﴾. ای الله!د دنيا اوآخرت نېکۍ را په برخه کړې او د دوزخ له اوره مو وژغورې! ای الله! موږ له تا څخه بخښنه، عافيت اود دنيا او آخرت تلپاتې روغتياغواړو! ای الله موږ له تا څخه هغه خيرغواړو، کوم خيرچې ستا پيغمبر (ﷺ) غوښتی دی، او پرتا باندې له هغه شرڅخه پناه غواړوله کوم څخه چې ستا پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) پناه غوښتې ده. ای الله ! موږ پرتا باندې له اندېښنې،غم، ناتوانۍ، تنبلۍ

**وېرې او د پور د ډېروالي او د خلکوله زياتي څخه پناه غواړو !**

## اعتذار

**د ژباړې، څېړنې او کره ليکنې پرمهال چې څومره خوند ما له دغه کتاب څخه اخيستی، يواځې زما رب اوخالق ته څرګنده ده ځکه چې دا ژباړه تر وروستنۍ کره ليکنې او څېړنې چې مې کلمه، کلمه او جمله، جمله څېړلی او بيا ليکلی ده، د کمپيوټر له تېيوڅخه مې چې لاس پورته کړی، نوهماغه وخت مې د همدې کتاب ليکوال ته د زړه له کومې دعاګانې کړې دي، که د الله (ﷻ) خوښه وي، نوهيله لرم چې د قبلېدوځای ته به يې د اخلاص مرغه ورسوي . په دغه وړوکې علمي خدمت کې نيمګړتيا د خپل نفس کمزوري او بشپړتيا يې د پاک څښتن له خوا ورکړه، توفيق او برى بولم . بايد يادونه وکړم چې په ۱۴۳۳هـ ق کې دا کتاب وژباړل شو، خود بلابېلو تخنيکي او ټولنيزو خنډونو په شتون کې وځنډېده خو بيا هم د الله (ﷻ) په پرېمانه مرسته يې دا کتاب د صبر په بېړۍ کې د هيلوساحل ته بيا په ۱۴۳۷ هـ ق کې راورساوه، بدبختانه د امانت څخه بده استفاده وشوه او په مصراو پېښور کې تش په نوم پښتنو قبضه کړ، د الله تعالی په فضل بيا هم د چاپ تر درشل تېرشو، هيله ده چې د ګرانو لوستونکو تنده پرې ماته شي. د کتاب له ژباړې، لوستلو، چاپولو څخه مې غټ اهداف په خپلو دوه شعرونو کې رانغاړلي :**

**هرسهارد نوی ورځې تـه سـلام دی اشنـا**

**اندېښنو کې ډوب انسان ته داپيغام دی اشنا**

**دپرون په قبصو ګوره چې رنځور نشـــی**

**د سبا ورکو حـــالاتو کـــې ترور نه شی**

**نېکمرغي ده چې تګلاره مو اسلام دی اشنـا**

**هرســـهار د نوی ورځې ته سلام دی اشنـا**

**جدا ګرځـــه د شــــهرت له ناروغانو نـــه**

**لری لری د شـــهوت له لېونيانـــو نـــه**

**په دې داوړو کې اخته چې وي بدنام دی اشنا**

هرسهار د نوی ورځې ته ســـــلام دی اشنا

د غیبت له بد ناسور نه ځـــان په ښنګ کــړه

په خولی لاس لره کـــارونه بیا د ننګ کـــړه

خوشحالي د مسلمان خو لوړ مرام دی اشـــنا

هرسـهار د نوی ورځې تـــه سـلام دی اشنا

د خبل عمر نندارتون کـــې دا ښـــکاره کړه

تکبر پـــه عـــاجزی بـــاندې اره کـــړه
دخوب کټ دې بیا نو ګوره په لو بام دی اشنا

هرسهار د نوی ورځې ته ســـلام دی اشنا

هر قدم کـــې د خپل ځان ښـــارنه وکـــړه

قلم واخلـــــه د باطل غندنـــــه وکـــــړه

پرمختګ د عقیدې کې دا لوی ګـام دی اشـــنا

هرسهار د نوی ورځې ته ســلام دی اشـــنا

په جامه د امـــانت کې چـــې خیانـــت کړي

پاکه مینـه چې په اور د شیـطانت کـــړي

په زړه تور په ژبه خوږ په سرسرسام دی
اشنا

هرسهار د نوی ورځې ته ســـلام دی اشـنا

دوه مخـــي خو اور لګیت د هـــر یوکـار دی

جدا کـــړی یـــی یو یـــار له بله یـــار دی

حقپالي د"حقوقي" روح او انـدام دی اشنا
هـرسـهارد نوی ورځې ته سلام دی اشنا

**له خـــــوارِه خوبه چې پاڅېږې سـبا**

**کاروان مــه تـّــــــــږه د هیلو تـر بېګاه**

**هره ورځ د نــــوې ورځ لـمـن اوږدېږي**

**تورمابښام کې بېرته تاوه شـــي توریږي**

**پرون تېرشو په هېڅ شان راتللای نــه شــي**

**سبا نـه ښکاري څه حـــال ویلای نه شـي**

**په نن ورځ کې تول راتول کړه خپل کارونه**

**د پرون او سـبا مه کـــوه غمونــــــــه**

**څه چې ځانته خوښوې بل ته يې خوښ کړه**

**په ښېګڼو باندې اور د کـــرکې یـــخ کړه**

**سرټیټ نه کړې چاته طمعه کـــې د مـــال**

**درپه برخه بـــه ذلت شـــــي هر مـــــهال**

**ژبه پاکه کړه له سپکو ســـتغــو سپورو**

**ځـــای په زړونو کې پیدا به کړې د نورو**

**خـــپل غم ووژنه پـــه توره د ایمــــــان**

**د شـــــر زهرو تــــه ودرېږه پـه مـــیدان**

**زړه دې پاک کړه لـــه حسد او له کینې نه**

**بـــې صبري او بیره وشــږه سینې نـــه**

**تنبل مه شه د نېستۍ له کــــــوره اوځه**

**کار کـــــوه د اوزګـــارۍ له اوره اوځـه**

**د روغتیا په نعمت هرمهال شاکـــــرشه**
**په غمیزو او کړاونـــوکې صابرشه**

**د غمونو درملنـــــه پـــه قران کـــږه**
**"حقوقي" سره خبرې دایـــمان کـــړه**

**د ژباړونکي لنډه پېژندنه: په علمي لیکنو او ژباړو کې د لیکوال او ژباړونکي تعریف د لوستونکولپاره ځکه لازم وي چې لوستونکي د لیکونکي او ژباړونکي د علمي او اجتماعي حیثیت څخه لږ تر لږه معلومات ولري ځکه چې علم یو روحي علاج دی او دا علاج باید د هر ناپېژندل شوي شخص څخه ونه شي ترڅو چې زیان یې په ګټه غالب نه شي نود مخورو ملګرو په مشوره : احمدشاه حقوقي د الحاج ځارنپوه جمال الدین ځوي د الحاج قاضي رحمت الله خان لمسی د شیخ صحبت بابا کړوسی او د شیخ سعادت خان بابا کودی دی، په ختېه عرب او په ملت افغان او د ننګرهارولایت د کامې ولسوالی اوسېدونکی دی، مورنۍ ژبه یې پښتو ده، خو دري، عربي،انګلیسي ،اردو باندی لیکل او لوستل کولای شي. ابتدایي زده کړی یې د کابل په سیدال ناصري ښونځي، او ثانوي زده کړی یې د هجرت پرمهال د سید جمال الدین فغان نهاري عالي لېسه کې ترسره کړی، د ثانوي زده کړو ترڅنګ یې له وخت څخه استفاده وکړه او د کلام الله مجید حفظ یې بشپړکړ، د حفظ سره ترڅنګ حدیث اوتفسیر ولوستل، (معهد ابی حنیفة للدعوة و اعداد الدعاة) یې هم ولوست کوم وخت چې د لومړي ځل لپاره تاسیس شو. د ثانوي دورې له فراعت څخه یې وروسته د قرانکریم تجوید د پېښور په مرکزي دارلقرآء کې ترسره کړ. بیا یې په حیات اباد کې د الجامعة الاسلامیة للعلوم والتقنیة د (مرکزاللغة العربیة) څخه فارغ شو. په تخصصي توګه تفسیریې د شیخ القران عبد السلام رستمي (رحمه الله) او د شیخ القران میرسمیع الحق هزارناوي (حفظه الله) سره او د حدیثو تخصصي درس یې د مولانا حسن جان مدني صاحب سره ترسره کړل. د هېواد اجتماعي او اقتصادي حالت ته په کتلو د متحده عرب اماراتو خواته یې سفر وکړ، هلته د اوقافو دعمومي ریاست په چوکاټ کې د خطابت او امامت سپېڅلی مسؤلیت وروسپارل شو، د همدې سپېڅلي مسؤلیت ترڅنګ یې د کوربه هېواد په دیني مرکزنو کې د ښوونې مسؤلیت هم درلود، چې د پاک نیت پر بنیاد او د پیغمبرعلیه السلام د هغه حدیث مبارک په رڼا کې چې فرمایی ( دوه نعمتونه دي چې خلک پکې ډوب دي یو روغتیا او بل یې فارغ**

وخت دی) او بل حديث چې (مخکې له پنځوشيانوڅخه پنځه شيان غنيمت وګڼه چې يو پکې له بوختيا مخکې فراغ او خالي وخت دي) د اسلامي بانکداری په برخه کې د الخوارزمي انټرنشنل کالج څخه ډګري ترلاسه کړه، د دې ټولو تر څنګ يې هلته د مېشتو افغانانو د اجتماعي او فرهنګي خدمتګارپه حيث خولی توی کړي چې هلته مېشت رسمي او عادي افغانان د دې شاهدان دي، شعر هم ليکي چې يوه ټولګه يې د ځلانده لمر په نوم چاپ او دوهمه ټولګه بېړی يې د چاپولوپه درشل کې د ستونزو سره په ټکرکې ده، د دې ژباړې ترمخه يې هم د دکتورصالح بن فوزان الفوزان ليکنه ده چې د ( تنبيهات على احكام تختص بالمؤمنات) نوميږي ژباړلی ده. بله ليکنه چې ابن حجر(رحمه الله) د زهد په هکله کړی ژباړلی خو د چاپ په درشل کې د اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان ده فعلا په ګران هېواد افغانستان کې د C-S financial مشورتي شرکت سره د تکافل په پروژه کې د تمويل او اسلامي بانکداری لپاره خدمت کې بوخت دی. الهي وينا ده (ان اريد الا الإصلاح ما استطعت ).

افغانستان ـ کابل

د مرغومي ۱۷مه ۱۳۹۷